كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ [آل عمران]

جامعة العلوم الإسلامية العثمانية

# احوال الحشر و النشر


ترتیب کوونکی: مولوي جاوید احمد ( حنیف )

لارښود استاذ : مولوي عبدالوارث صاحب


د فراغت کال : ۱۴۴۶ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ [آل عمران]

جامعة العلوم الاسلامية العثمانية

# احوال الحشر والنشر


ترتيب كوونكى : مولوي جاويد احمد ( حنيف )

لاربنود استاذ : مولوي عبدالوارث صاحب


فراغت كال : ۱۴۴۶ هـ ق

# دلاربود استاد تائید

نحمده ونصلي على رسوله الكريم.

وبعد!

دا رساله چې د حشر اورلګ د ملاتړ ۲ برخه د محترم فاضل مولوي جاوید احمد صاحب له خوا چمتو شوې ده، د اسلامي عقیدې له مهمو موضوعاتو څخه ده. لیکنه په منظم اسلوب روښانه شوې او د شرعي اصولو پر بنا یې ترتیب شوې ده.

د مقالې محتوا د تایید وړ ده او د تعلیمي معیارونو سره برابره ده.

عبدالوارث (المسترشد)

۱۳/شعبان/۱۴۴۷

# مننلیک:

ډير خوښ يم چي دالله تعالی په توفيق سره اودخپلو استاذانو په کومک او دخپلو والدينو په همکارۍ او دعاءسره موږ دداسي ديني او ګټورو معلوماتو دراټولولو اراده کړېده  الله سبحانه وتعالی  دي موږ ددوی له سيوري څخه نه محروم کوي الله تعالی دي ددوی په عمر کي برکت واچوي خاصتًا بيا دخپلو والدينو څخه ډير مننداوی يم چي هميشه يې زما هر ډول کومک کړيدی  او ددوی په برکت موږ تر دغه ځايه رارسېدلي يو .

# فهرست

**موضوع** | **صفحه**


اول مطلب: ............................................................ ۲
د قیامت تعریف صرفي  اولغوي تحقیق:............................................................ ۲
دوهم مطلب: ............................................................ ۳
د قیامت اقسام:............................................................ ۳
دریم مطلب : ............................................................ ۳
د قیامت نومونه: ............................................................ ۳
څلورم مطلب : ............................................................ ٦
قیامت ته ولي دومره نومونه ورکول سوه ؟ ............................................................ ٦
پنځم مطلب : ............................................................ ۷
قیامت به کله وخت واقع کیږي؟............................................................ ۷
شپږم مطلب:............................................................ ۸
قیامت به پر چا باندي قائمیږي؟............................................................ ۸
دوهم مبحث دصور شپیلۍ او دهغه وخت : ............................................................ ۹
دوهم مطلب : ............................................................ ۱۱
ددوهمي شپیلۍوروسته به څه کیږي؟ اول به څوک راپورته کیږي؟ ............................................................ ۱۱
دریم مبحث :دمحشر میدان ته دانسانانو پیریانو او حیوانانو  راتگ............................................................ ۱۲
ایا حیوانات هم د محشر میدان ته راپورته کیږي ؟ ............................................................ ۱۲
دوهم مطلب : ............................................................ ۱۳
دانسانانو د محشر میدان ته د راتلو بیان؟............................................................ ۱۳
دریم مطلب : ............................................................ ۱٤

اول به د محشر په ورځ چا ته جامه ورواغوستل سي؟........................................................ ١٤

دحشر مځکه به څنګه وي؟.................................................................................. ١٥

پنځم مطلب :............................................................................................ ١٦

د قیامت د ورځي حشر او نشر سختي.................................................................... ١٦

شپږم مطلب :............................................................................................ ١٧

دقیامت په ورځ د انسانانو سخت احوال ................................................................ ١٧

اووم مطلب : ............................................................................................ ٢٣

کفارو چي په دنیا کي کوم ښه عملونه کړي وي آیا په آخرت کي به د هغو فائده وررسیږي؟.............. ٢٣

څلورم مبحث شفاعت او دهغه اقسام...................................................................... ٢٣

اول مطلب ............................................................................................... ٢٣

شفاعت.................................................................................................. ٢٣

دوهم مطلب ............................................................................................. ٢٤

دشفاعت اقسام......................................................................................... ٢٤

حساب.................................................................................................. ٢٧

دوهم مطلب : ........................................................................................... ٢٨

آیا حساب به د کفارو اومشرکانو سره به کیږي ؟......................................................... ٢٨

اول مطلب .............................................................................................. ٣٠

میزان ﴿ترازو﴾ ........................................................................................... ٣٠

دوهم مطلب ............................................................................................. ٣٠

دقیامت په ورځ به ترازو یو وي او که به ډېر وي؟......................................................... ٣٠

دریم مطلب :............................................................................................ ٣١

د بنده ګانو اعمال به څنګه تلل کیږي.؟ ...................................................................... ٣١

حوض کوثر ........................................................................................................................ ۳۱

دوهم مطلب ...................................................................................................................... ۳۲

دغه حوض به چيري وي؟........................................................................................................ ۳۲

نهم مبحث: پُل صراط او دهغه ځای.............................................................................................. ۳۲

اول مطلب ........................................................................................................................ ۳۲

پُل صراط .......................................................................................................................... ۳۲

خاتمه البحث....................................................................................................................... ۳٤

# لنډيز

حا مدًا ومصليًا

محترمو ورونو !

دحشر اونشر حالات داسلامي عقيدې له خورا مهمو موضوعاتو څخه دي ځکه داموضوع دانسان دژوند دوروستي پړاو يعني مرگ سره تړاولري حشر معنا داده چي الله تعالی ټول انسانان له قبرونو راپورته کړي او نشر معنا داده چې ټول به دحساب لپاره را جمع سي .

دحشر په ورځ به له لومړي انسان څخه تر آخري انسان پوري ټول بيله کوم توپيره را پورته سي نه به مال ورسره وي نه ځواک بلکه هر څوک به دخپل عمل سره ولاړوي .

په هغه ورځ به انسان ته دهغه ټول کړي اعمال ښکاره کړل سي ښه وي او که بد .

داعمالنامې ترلاسه کول ميزان (اوترازو) حساب او پوښتني او دپُل صراط تيريدل دهغې ورځې دسترو حالاتو څخه دي .

داموضوع عامو خلگو ته ډېر مهم پيغام لري ځکه انسان اصلاح ته رابولي کله چي يو مسلمان داباور لري چي يوه ورځ به خامخا دهر عمل حساب راځخه کيږي ،نو هغه به په خپل ورځني ژوند کي ډېر احتياط کوي ، هغه به درواغ نه وايي ،ظلم به نه کوي ، دخلگو حقوق به نه خوري ،ځکه پوهيږي چي دااعمال به خامخا په آخرت کي ښکاره کيږي

دحشر او نشر عقيده : انسان ته دوخت اهميت او ارزښت ورزده کوي ځکه دی پوهيږي چي مرگ حتمي راځي نو کاميابي به هلته وي چي چا دوخت ارزښت او گټه يی ځني واخيستل او خپل اعمال يې سم کړه .

په پای کي ويلای سو چي دحشر حالات يوازي يو قيصه نه ده بلکه دژوند دسمون لار ده څوک چي تل دآخرت په فکر کي وي نو هغه يو ښه او کامل مسلمان دی ځکه داشخص تل کوښښ کوي چي ژوند د ايمان په رڼا کي وکړي ،پر داغه ايمان مړ سي، او دقيامت په ورځ دکاميابو خلگو په ډله کي راپورته سي .

الله سبحانه وتعالی دي موږته هم وآخرت ته دتياری فکر راپيداکړي چي ژوند مو هم په داغه فکر کي وي ،او پر ايمان مړه سو، او په آخرت کي دکاميابو خلگو په جماعت کي راپوته سو . آم

## اهمیت :

داموضوع په اسلام كي يو ډېره مهمه موضوع ده بايد هر مسلمان هر وخت په كور كي په مجلس كي دملگرو سره او استاد دخپلو شاگردانو سره اوامام پر ممبر باندي ددې موضوع يادونه حتما وكړي چي خلگ دآخرت څخه غافله نسي او همېشه يې دامو ضوع په دماغ او فكر كي مو جوده وي .

## دخبېرني اصلي موخه :

ځكه داپه اسلام كي يو مهم اصل دی او مهمه عقيده ده نو ځكه بايد وخېړل سي .

## دخبېرني فرعي موخي:

*دقيامت پېژندنه .

*دبعث بعد الموت يعني دبيا راپورته كېدو پېژندل .

*او دهغو حالاتو او واقعو پېژندل چي په دغه ورځ پېښېدوونكي دي .

ستاسو په فكر دآخرت دورځي مذاكره او ياد تازه كول څومره مهم دي .؟

## اصلي پوښتني :

*قيامت او آخرت څه ته وايي ؟

*خلگ به څنگه راپورته كېږي ؟

## فرعي پوښتني :

*حساب به څنگه اودچاڅخه كيږي ؟

* شفاعت،ميزان ،حوض كوثر ،او پُل صراط څه دي ؟

## پخواني آثار :

هغه آثار كه څه هم ډېرو ښو علماوو ليكلي وه خو هغه يا په عربي دي چي زموږ عام خلگ گټه نه سي ترې اخيستلای او كه په پښتو هم وي هغه پر ډېرو مسائلو او بحثو باندي مشتمل وه خو موږ داسي موضوع بيان كړه چي يوازي پر يو څو مختصرو

او کتورو معلوماتو باندي راټوله ده .

دهغو کتابو نومان چي پردغه موضوع بحث کوي خو په عربي دي :

*التذکرة باحوال الموتی واموراالآخرة: مصنف: امام قرطبي (م ٦٧١ )

* القیامة الکبری :مصنف: امام ابن کثیر (م۷۷۴)

*البعث والنشور :مصنف : امام بیهقي (م۴۵۸)

# بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

الحمد لله واهب الحياة وسالبها المقيم للأجساد بالارواح و قابضها الذى خلقنا من تراب و اليه مصيرنا، و أصلي و أسلم على المصطفى المختار الذى أطال الحديث عن الموت و شدته والقيامة و أحوالها .والنار و عذابها و الجنة و نعيمها و أصلى و أسلم على آله الأطهار و صحبه الأبرار أما بعد : فقد قال الله تعالى كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ. آل عمران ﴿١٨٥﴾وقال تعالى فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ﴿٧﴾ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ﴿٩﴾ يَقُولُ الْإِنْسَانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾ إِلَى رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾ القيامة وقال تعالى الْقَارِعَةُ ﴿١﴾ مَا الْقَارِعَةُ ﴿٢﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿٣﴾ يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ ﴿٤﴾ وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ ﴿٥﴾ القارعة ,وَقَالَ َالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً، عُرَاةً، غُرْلًا».قَالَتْ عَائِشَةُ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ جَمِيعًا، يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا عَائِشَةُ، الأَمْرُ أَشَدُّ مِنْ اَنْ يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ الِى بَعْضٍ١ .و عن رسول الله قال ثم يُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَيْ جَهَنَّمَ، فَأَكُونُ اَنَا وَ اُمَّتِىْ أَوَّلَ مَنْ يُجِيْزُهَا.٢صَدَقَ اللّهُ وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِىُّ الْكَرِيْمِ .

## مقدمة

محترمو لوستونکو !دا یو ښکاره حقیقت دی چي مرگ راتلونکی دی، د مرگ خوند به ټول څكي هغه كه انسانان دي، كه پيريانان دي، او كه حيوانان دي، يعني دوی ټول په دغه باور دي چي موږ دغه دنيا ته راغلي يو ، يوه ورځ به خامخا مړه كيږو، او د مرگ څخه تر ننه پوري هيڅ چا انكار نه دی كړی، هغه كه كافر وي كه مسلمان، الله تعالی د مرگ په اړه داسي فرمايي :كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُالْمَوْتِ﴿١٨٥﴾سورة آل عمران ترجمه :هر نفس څكونكی د مرگ دی؛ نو دا خبره حتمي ده چي مرگ راځي او مرگ ددې لپاره راځي چي موږ يوې داسي ورځي ته انتقال كړي چي هلته زموږ څخه د تېر سوی عمراو د خپلو كړو اعمالو او خپلو ويلو اقوالو پوښتنه وسي. ددې ورځي نوم قيامت دی او دلته دنيا كي چي موږ ژوند كوو دا يو دارالامتحان دی، ددې امتحان نتيجه به په قيامت كي معلومه سي لكه الله

١صحيح البخاري كتاب الرقاق حديث رقم: ٦٥٢٧ صحيح مسلم كتاب الجنة وصفة نعيمها حديث رقم: ٢٨٥٩

٢ صحيح البخارى جلد ٢ صفحه ٩٧٣

تعالى چي فرمايي ؛ الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِيزُ الْغَفُورُ ﴿٢﴾ سورة الملك ترجمه: الله تعالى هغه ذات دى چي مرگ او ژوند يې پيدا كړي دي؛ ددې لپاره چي تاسو امتحان كړي چي كوم يو ستاسو ښه ښه عمل كوونكى دى، يعني د مرگ او ژوند داسلسله ددې لپاره ده چي تاسو امتحان كړي چي كوم چا ښه عمل او كوم چا بد عمل كړى دى .الله عزوجل انسان پيدا كړى دى، ژوند يې وركړى او انبياء عليهم السلام يې ورته راواستول اود ژوند طريقه يې وروښودل چي د يوه الله تعالى عبادت وكړي او دا خبره ورته وكړي چي دغه دنيا ته تاسو د عبادت لپاره رااستول سوي ياست، نو چي كله انبياء عليهم السلام راغله، نو انسان په امتحان كي راغلى، چي د انبياء عليهم السلام خبره مني د يوه رب عبادت كوي، او كه شرک كوي، د قيامت په ورځ ايمان راوړي او كه يې نه راوړي؛ دا ټول اختيارات بنده ته وركول سوه،او دا هم ورته وويل سوه چي دوى به دوهم وار راپورته كيږي ،او د تېر سوي ژوند حساب به ترې اخيستل كيږي؛ لكه الله تعالى چي فرمايي : يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوا أَحْصَاهُ اللَّهُ وَنَسُوهُ وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٦﴾ سورة المجادلة ترجمه: په دغه ورځ به الله تعالى دوى راپورته كړي ټوله نو خبر به وركړي الله دوى لره په هغه څه سره چي دوى كړي دي، او وبه شميري الله تعالى دغه عمل او دوى به هير كړي وي دغه عمل او الله تعالى پر هر شى باندي حاضر دى.

## اول مبحث دقيامت پېژندنه

## اول مطلب:

### د قيامت تعريف صرفي اولغوي تحقيق:

قيامت دقَامَ يَقُوْمُ څخه جوړسويدى سوى دى :په لغت كي قائمېدو ته وايي د قيامت نوم ځكه ورته وركول سو چي په دغه ورځ به ټول خلگ الله تعالى ته دريږي د حساب لپاره ،لكه الله تعالى چي فرمايي: يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِ الْعٰلَمِيْنَ﴿٦﴾ سورة المطففين ترجمه :په دغه ورځ به دريږي خلگ د ټولو عالمونو و رب لره، يعني كه انس دى،كه جن ،او كه حيوان په دغه ورځ به ټول د الله تعالى مخ ته ولاړ وي نو ځكه ورته قيامت وايى .چي په دغه ورځ به غټ كارونه كيږي لكه :حساب، صراط، شفاعت، جنت، دوزخ او داسى نور چي په اياتونو او احاديثو كي يې بيانات سوي دي .

## دوهم مطلب:

### د قيامت اقسام:

قيامت دوه قسمه دی؛ ۱ :قيامت صغری، ۲ :قيامت کبری.

۱ :قيامت صغری : هغه دی چي کله د الله تعالی يو بنده مړ سي نو دده قيامت شروع سو؛ يعني دده اعمال نور قطعه سوه، او هغه منزل ته ورغلی چيرته چي دده څخه سوال کيږي، لکه په حديث شريف کي چي راځي : عن عائشةَ رَضِيَ اللهُ عنها قالت*:كانَ رجالٌ منَ الأعرابِ يأتونَ النبيَّ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ، فيسألونَهُ عنِ السَّاعةِ، فكانَ ينظرُ إلى اَصْغَرِهِمْ ، فَيَقُوْلُ: إنْ يَعِشْ هَذَا، لا يُدرِكْهُ الهرَمُ، حَتَّى تَقُوْمُ عَلَيْكُمْ سَاعَتُكُمْ[1] ترجمه: د بی بی عائشة رضی الله عنها څخه روايت دی چي وايي :چي دصحرا خلگ وه دوی راغله نبی کريم صلی الله عليه وسلم ته، دوی سوال وکړی دقيامت په اړه، نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم په دوی کي و هغه کوچني عمر والا ته وکتل او ويې فرمايل که چيري دغه کوچنی ژوند وکړي﴾ ستاسو څخه مخکي مړ نه سي ﴿ دغه کوچنی به زوړوالی ونه نيسي﴾ سپين ږيری به نه سي دهغه څخه مخکي به تاسو ته قيامت راسي .

نو مراد دلته د قيامت څخه مرگ وو؛ يعني :نبي عليه السلام دوی ته وويل چي ستاسو قيامت ستاسو مرگ دی .

۲ :قيامت کبری :دا هغه قيامت دی چي په دغه ورځ به ټول خلگ راپورته کيږي حساب به ورسره کيږي، دغه ته قيامت کبری وايي.

## دريم مطلب :

### د قيامت نومونه:

د قيامت د تعريف او اقسامو وروسته به د قيامت د نومونو بحث وکړو .

د قيامت لپاره ډېر نومونه سته امام قرطبی او امام غزالی رحمهما الله د قيامت لپاره ﴿۵۰﴾نمونه ذکر کړي دي او امام ابن حجر عسقلاني رحمه الله هم په خپل کتاب فتح الباري[2] کي ذکر کړي دي.

او اوس به له هغو۵۰ څخه بعضي دلته ذکر سي .تر هر څه مخکي به هغه نمونه ذکر سي چي د قرآنكريم آياتونو کي راغلي دي :

---

۱صحيح البخاری کتاب الفتن حديث نمبر ۷۱۱۵

۲فتح الباری جلد ۱۱ صفحه ۳۹۶

۱:نوم دقيا مت دنومونو شخه ﴿يوم القيامة﴾ دی لکه الله تعالی چي فرمايي :وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلي وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَّ بُكْمًا وَصُمًّا ﴿٩٧﴾ سورة اسراء ترجمه :او موږ به دوی حشر کړو د قيامت په ورځ پر مخانو باندي ړانده، کاڼه، او ګونګيان؛ دقيامت د لفظ لغوي اوصرفي تحقيق مخکي سوی دی .

۲ :نوم دقيا مت دنومو نوڅخه﴿ يو م الآخرة﴾ دی لکه الله تعلی چي په قرآن عظيم الشان کي د آخرة په اړه فرمايي : وَلكِنَّ الْبِر مَنْ امَنَ بِا الله وَالْيَوْمِ الْاخِرِ وَالْمَلآ ئِكَةِ وَالْكِتبِ وَالنَّبين﴿١٧٧﴾ سورة البقره ترجمه : مګر نيکي هغه ده چي ايمان راوړي پر الله تعالی او پرورځ د آخرت او پر ملائکو او پر کتابونو او پر انبياء عليهم السلام باندي. قيامت ته يوم الاخرة ځکه وايی چي دا به ددنيا اخره ورځ وي، ددې وروسته ددنيا ورځ نه راځي اودا به ددنيا ختمونکې ورځ وي .

۳: نوم دقيا مت دنومونو څخه ﴿يوم الساعة﴾ دی ؛ لکه الله تعالی چی فرمايي : اِنَّ السَّاعَةَ اتِيَة اَكَادُ اُخْفِيْهَا ﴿١٥﴾ سورة طه ترجمه :يقيناً د ساعة ورځ راتلونکې ده او نيژدې ده چي زه يې پټ کړم د ځان څخه دا ورځ؛ د ساعة ورځ ځکه ورته ويل کيږي چي امام قرطبي رحمه الله وايی ساعة په عربي ژبه کي يو جزء ته وايی چي د زماني څخه محدود وخت دی نو دا قيامت هم يو داسی ساعة دی چي محدود نه دی دا يو ډېر اوږد وخت دی او دوهمه وجه ځکه ورته ساعة ويل کيږي چي دا قيامت هم په يو ناڅاپه وخت کي راځي .

۴ :نوم دقيا مت دنومو نوڅخه ﴿يوم القارعة﴾ دی، لکه الله تعالی چي فرمايي : اَلْقَارِعَة ﴿١﴾ مَاالْقَارِعَة ﴿٢﴾ سورة القارعة ترجمه :ټکونکې ؛ څه شي ده ټکونکې؛ قارعة ځکه ورته ويل کيږي چي په دغه ورځ باندي د بنده ګانو زړونه ټکيږي، د سختئ څخه لکه د انسان چي د سام او بيري په وخت کي زړه درېږي او ټکيږي نو په دغه ورځ به هم دغسي د زړونه ټکيږي .

۵ نوم دقيا مت دنومونو څخه﴿ يوم الدين﴾دی؛ لکه الله تعالی چي فرمايي: و مَا اَدْرَاکَ مَا يَوْمِ الدينْ ﴿١٨﴾سورةالانفطار ترجمه :او ته څه خبر يې چي څه ده ورځ ددين؛ دقيامت ورځي ته ځکه يوم الدين وايی چي دين په عربي کي حساب او جزاء ته وايی نو په دغه ورځ به هم الله تعالی د ټولو خلګو سره حساب او کتاب کوي .

٦ :نوم دقيا مت دنومونو څخه ﴿يوم الفصل ﴾ دی، لکه الله تعالی چي فرمايي :هذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الذَّى كَنْتمْ بِه تُكَذِّ بُوْنَ﴿٢١﴾ سورة الصافات ترجمه :دا ورځ د فصل او جلا والي ده، هغه چي تاسي د هغه په اړه تکذيب کوونکي واست دغي ورځي ته يوم الفصل ځکه وايی چي په دغه ورځ به الله عزوجل خپل نيک عمله او بد عمله بنده ګان سره جلا کړي .

۷ :نوم دقيا مت دنومونوڅخه﴿ يوم الخروج﴾ دی، لکه الله تعالی چي فرمايي :يَوْمَ يَسْمَعوْنَ الصَّيْحَةَ بِالْحَقِ ذلِكَ يَوْم

الْخُرُوْجِ ﴿۴۲﴾سورة ق ترجمه :په دغه ورځ به دوی واوري چيغه په حق سره دغه ورځ د راوتلو ده؛ دغي ورځي ته ځکه يوم الخروج وايی چي په دغه ورځ به ټول بنده ګان له خپلو قبرونو څخه راوزي.

۸: نوم دقيا مت دنومونو څخه﴿يوم الصاخة ﴾دی، لکه الله تعالی چي فرمايي: فَاِذَا جَآءَتِ الصَّاخَةَ ﴿۳۳﴾سورة العبس ترجمه : نو هر وخت چي راسي چيغه کوونکې؛ دغي ورځي ته ﴿صاخة﴾ ځکه ويل کيږي چي امام قرطبي رحمه الله ليکي چي صاخة نفخة الاولی ته ويل کيږي او طامة نفخة الثانية ته ويل کيږي، او ابن کثير[۱] رحمه الله وايی چي صاخه د ايوه چيغه ده چي د قيامت په ورځ به کيږي .

۹ :نوم دقيا مت دنومونو څخه﴿ يوم الطامة﴾دی، لکه الله تعالی چي فرمايي : فَاِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةَ الْكُبْرَی﴿۳۴﴾ سورة النازعات ترجمه :نو کله چي راسي هغه لويه او ستره پېښه؛ ددې نامه وجه د تسميې بيان وسو چي دا نفخة الثانية ده .

۱۰ :نوم دقيا مت دنومونو څخه ﴿يوم الحسرة ﴾دی، لکه الله تعالی چي فرمايي : وَ اَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ اِذْ قَضِيَ الْاَمْرُ وَ هُمْ فِيْ غَفَلَةٍ وَّهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۹﴾ سورة مريم ترجمه :او وبيروه دوی له هغي ورځي څخه د حسرة او تاوان هغه وخت چي فيصله وسي د قيامت دراتلو او دوی به په غفلت کي وي، او ايمان به نه لري؛ د قيامت ورځي ته ځکه يوم الحسرة وايی چي په دغه ورځ باندي به ډېر خلګ تاوانيان سي او ډېره پښيماني به کوي .

۱۱ :نوم دقيا مت دنومونو څخه ﴿يوم الغاشية﴾دی، لکه الله تعالی چي فرمايي :هَلْ اَتَاکَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةَ ﴿۱﴾سورة الغاشية ترجمه :ايانه دی راغلی تاته خبر د پټوونکي يعني د قيامت؛ قيامت ته ځکه غاشية وايی چي په دغه ورځ به خلګ په غم او مصيبت کي پټ وي د الله تعالی له وهم او بيري څخه، او ددې ورځي د سختۍ څخه .

۱۲ :نوم دقيا مت دنومونو څخه﴿ يوم الخلود ﴾دی، لکه الله تعالی چي فرمايي : اُدْخُلُوْا بِسَلٰمٍ ۚ ذٰلِکَ يَوْمَ الْخُلُوْدِ ﴿۳۴﴾سورة ق ترجمه :داخل سئ په سلامتيا سره دغه ورځ د همېشه توب ده، يعني تاسي داخل سئ په دغه ځای کي به همېشه اوسيږئ؛ دا ورځي ته يوم الخلود ځکه وايی چي مؤمنان به همېشه په جنت او نعمتونو کي وي او کفار به همېشه په اور او عذابونو کي وي.

۱۳ :نوم دقيا مت دنومونو څخه ﴿يوم الواقعة﴾دی، لکه الله تعالی چي فرمايي : اِذَا وَقَعَةِ الْوَاقِعَةَ ﴿۱﴾ سورة الواقعة ترجمه :هغه وخت چي واقع سی واقع کېدونکې ﴿پېښېدونکې﴾؛ ددې ورځي لپاره ځکه دا نوم غوره سو چي ددې ورځي په پېښېدو او واقع کېدو کي هيڅ شک نسته .

۱۴ :نوم دقيا مت دنومونو څخه ﴿يوم الحساب ﴾ دی ،لکه الله تعالی چي فرمايي :اِنَّ الذِيْنَ يضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ

---

[۱] تفسير ابن کثير

الله لَهمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌبِمَا نَسُوْا يَوْمَ الْحِسَابِ ﴿٢٦﴾ سورة ص ترجمه :يقينا هغه كسان چي دوى گمراه وي، خطاء وي د الله تعالى دلاري څخه ددوى لپاره سخت عذاب دى په سبب ددې چي دوى هېره کړې ده د حساب ورځ؛ دغي ورځي ته ځکه يوم الحساب ويل كيږي چي په دغه ورځ به د ټولو بنده ګانو سره حساب كيږي، په داسى طريقه سره چي پر هر بنده به د هغه ښه او بد دا ټوله به پر حسابيږي .

١٥ :نوم دقيا مت دنومونو څخه ﴿يوم التلاق ﴾ دى، لكه الله تعالى چي فرمايي :رَفِيْعُ الدَّرَجَاتِ ذُو الْعَرْشِ يُلْقِى الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِه عَلى مَنْ يَشَآءِ مِنْ عِبَادِه لِيَنذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿١٥﴾سورة المؤمن ترجمه :پورته كوونكى دى الله تعالى ددرجو، خاوند د عرش دى نازلوي وحى پر هغه چا چي خوښه يې سي له بنده ګانو څخه چي وبېروي خلگ د ورځي څخه د تلاق ﴿ملاقات﴾ ؛ دغه ورځي ته ځكه يوم التلاق ويل كيږي :چي ددې اړوند ابن عباس رضى الله عنه وايى چي آدم عليه السلام به د خپل اخيري زوى سره ملاقات وكړي، او بعضې علماء بيا وايى چي په د غه ورځ به ټول بنده ګان د خپل حقيقي خالق سره يوځاى سي .

قدرمندو لوستونكو !تر دغه ځايه پوري هغه نومونه چي علماء كرامو سره راجمع كړي وه، او ذكر يې د الله تعالى په كتاب كي سوى وو، مخكي مو درته ذكر كړه چي د قيامت ٥٠ نومونه ياد سوي دي، خو د بحث د اوږد والي په سبب په همدغو نومونو سره بسنه كوو .

## څلورم مطلب :

## قيامت ته ولي دومره نومونه وركول سوه ؟

اوس يوه يادونه بايد وكړم :هغه دا چي كه چيري يو چا ته سوال پيدا سي چي دومره نومونه ولي بيان سوه په قرآنكريم كي او ياهم علماوو ولي دومره زيات نومونه د قيامت لپاره بيان كړي دي؟ دلته خو فقط يو نوم هم كافي وو؟ دجواب لپاره علماءى كرامو مختلف جوابونه كړي دي؛ مثلاً :امام قرطبي رحمه الله فرمايي چي د قيامت لپاره ځكه دومره زيات نومونه غوره سول چي په عربي ژبه كي يوه مقوله ده چي﴿ كل ما عظم شأنه تعدد صفاته و كثرت اسماءه﴾ ترجمه :هر هغه شئ چي د هغه شان لوړ وي نو د هغه صفات او نومونه هم ډېر راځي .

او دوهم جواب علماء كرام ددې لپاره دغه وركړي دى چي په عربي ژبه كي دا قانون دى چي د كوم شي شان او مقام لوړوي د هغه شي لپاره عرب ډېر نومونه ايږدي لكه :د توري چي ډېر لوي شان دى او نومونه يې هم زيات دي ځكه دا دجهاد آله ده او همدارنګه د ښكار لپاره هم استعماليږي، بل مثال يې د زمري هم ويلاى سو چي شان يې ډېر لوى دى نو عربو هم د زمري لپاره ډېر نومونه غوره كړي دي .اوس خو د قيامت د لفظ لږ تحقيق وسو، لغوي

او اصطلاحي تعریفونه یې وسوه او اقسام او نومونه یې هم بیان سوه؛ اوس به په اصلي بحث سره شروع وکړو، چي هغه د قیامت واقع کېدل دي .

## پنځم مطلب :

## قیامت به څه وخت واقع کیږي؟

آیا د قیامت خبر الله تعالی بل چا ته ورکړی دی او که نه؟ آیا ملائکي او انبیاء علیهم السلام چي د الله تعالی مقربین بنده ګان دي هغوی د قیامت د ورځي په تاریخ خبر دي او که نه؟ جواب :الله تعالی د پنځو شیانو خبر هیڅ چا ته نه دی ورکړی لکه الله تعالی چي فرمایي :إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴿۳۴﴾ سورة لقمان ترجمه :بیشکه الله تعالی لره د قیامت د وخت علم دی ، او الله تعالی باران نازلوي او الله تعالی خبر دی په هغه څه چي د مندو په رحمو کي دي، او ندی خبر هیڅ یو سړی په دغه باندي چي سبا به څه کار کوي، او نه دی خبر هیڅ یو سړی چي پر کومه مځکه به دا سړی مړ کیږي یقیناً الله تعالی پر هر څه عالم او خبردار دی؛ نو دا خبره ددې ایات څخه معلومه سوه چي و هیڅ چا ته الله تعالی د قیامت خبر نه دی ورکړی، چي کله به قیامت راځي او په کوم تاریخ به وي، حتی خپلو مقربو بنده ګانو ته چي انبیاء علیهم السلام او ملائکي دي هغوی ته هم الله تعالی د قیامت د ورځي خبر نه دی ور کړی، په دې کي څه راز دی چي الله تعالی د خپلو ټولو بنده ګانو څخه دغه راز او خبر پټ کړی دی؟ په دې کي به ډېر رازونه او حکمتونه وي چي الله تعالی ته معلوم دي،

خو بعضي یې علماوو بیان کړي دي .د هغو حکمتونو څخه اول حکمت دادی :چي په دې سره الله تعالی خپل بنده ګان امتحانه وي، یعني که الله تعالی د قیامت ورځ معلومه کړې وای نو انسانانو به د نېکو اعمالو هیڅ پابندي نه کولای او بد اعمال به یې ډېر وای، دا ځکه چي دوی ته دقیامت ورځ معلومه ده نو دوی به تر هغې ورځي تر راتلو هیڅ ښه عمل نه کولای د هغې ورځي په رارسیدو به یې اعمال او توبې ته رجوع کولای نو ځکه الله تعالی د غه ورځ پټه ساتلې ده .

دوهم حکمت د هغو حکمتونو څـخه چي الله تعالی ولي د قیامت نېټه پټه کړې ده؟ هغه د ا دی چي په دې سره الله تعالی د خپل قدرت او لویی ښکارندویي کوي، چي الله تعالی دا سي ورځ خپلو بنده ګانو ته تیاره کړې ده چي په وخت او تاریخ یې هیڅ څوک نه دی خبر او یواځي الله تعالی په دغه ورځ باندي عالم دی، لکه الله تعالی چي فرمایي :اِنَّ الله عِنْدَه عِلم السَّاعَةِ ﴿۳۴﴾ سورة لقمان ترجمه :یقینا یواځي الله تعالی دی چي د هغه سره د قیامت دورځي علم دی ، بل هیڅ چا لره ددې ورځي معلومات نسته.

دريم حکمت د هغو حکمتونو څخه چي ولي الله تعالی د قيامت تاريخ پټ کړی دی؟ هغه دادی چي الله تعالی په دغه سره د خپلو بنده ګانو عاجزي ثابته کړې ده، چي تاسو اې زما بنده ګانو په هغه څه خبر ياست چي الله تعالی په هغه سره خبر درکړی دی چي الله تعالی په کوم شي خبر نه وي درکړی په هغه باندي تاسو ځان نه سی خبرو لکه د قيامت د ورځي تاريخ. دا خو هغه حکمتونه دي چي علماؤو بيان کړي دي، په اصلي حکمتو يې الله تعالی ښه خبر دی خو نتيجه يې دا سوه چي د قيامت د ورځي پټول دا يو امتحان دی دالله تعالی؛ ځکه چي د الله تعالی بنده ګان غافله نه سي او ټول وخت په عبادت تېر کړي او د ګناهونو څخه ځان وساتي .

## شپږم مطلب:

## قيامت به پر چا باندي قائميږي؟

قيامت به اول پر کومو خلګو قائميږي؟ يعني دا دنيا به چا ته پاته وي؟ چي قيامت باندي راسي، آيا دا خلګ به مومنان وي او که به نه وي؟ په احاديثو کي راځي چي قيامت به پر بدو خلګو قائميږي لکه په يو حديث شريف کي چي راځي :عَنْ اِبْنِ مَسْعوْد رَضِى الله عَنْه قَالَ :قَالَ رَسوْل الله صَلى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمْ لا تَقوْمُ السَّاعَة اِلَّا عَلَى شِرارِ الْخَلْق.[1] ترجمه :ابن مسعود رضی الله عنه روايت کړی دی چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم و فرمايل چي قيامت به نه قائميږي مګر پر شريرو خلګو .يعني چي قيامت تر هغو نه راځي چي په دنيا کي ښه خلګ موجود وي يعني ددنيا څخه به ټول ښه خلګ هغه خلګ چي د الله تعالی عبادت کوي هغه به وفات کېږي او يوازي به د مځکي پر سر ګنهکاره ،او شرير خلګ پاته وي، پر هغو به الله تعالی قيامت راولي .او په يو بل حديث شريف کي هم نبي عليه السلام ددغي موضوع يادونه کوي او فرمايي: عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا يُقَالَ فِي الْأَرْضِ: اللَّهُ، اللَّهُ [2]. ترجمه :انس رضی الله عنه فرمايي چي يقيناً نبی عليه السلام و فرمايل چي قيامت نه قائيميږي تر څو چي په مځکه کي الله الله ويل کيږي .يعني که په مځکه کي د الله تعالی بنده ګي کېدل نو تر هغو قيامت نه راځي، که دغه خلګ ختم سوه، په ښکاره ګناهونه کيدل، فخر په ګناه کيدی مؤمنان نه وه کفار ډېر وه نو پر دغه خلګو به قيامت راځي .د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ټولو احاديثو څخه د اخبره معلوميږي چي ښه بنده ګان به ختم سي؛ نو آيا دا ټوله به په يوه وار ختميږي؟ نبي عليه السلام موږ ته ددې خبري جواب بيان کړی دی نبي عليه السلام په يوه اوږده حديث شريف کي فرمايي :چي الله تعالی به پر خپلو بنده ګانو باندي يوه نرمه هواء يا باد راواستوي چي ډېره پاکه هواء به وي، په دغه هواء سره به د مځکي پرسر ټول د الله تعالی

[1] مشکوم المصابيح ٢ جلد ٤٨ صفحه

[1] مشکوم المصابيح جلد ٢ صفحه ٤٨٠

نیک بنده گان وفات سي، او په دنیا کي به ټول خبیث او شریر انسانان پاته سي، دغه خلګ به په ښکاره باندي ګناهونه کوي پر مځکه به ظلم خپل اخیرى حد ته رسېدلى وي، نو چي کله دغه حالت پیښ سي چي پر مځکه باندي يو د الله د لفظ ویونکى نه وي پر دغه خلګو به قیامت ناڅاپه راسي چي دوى به يې ګمان هم نه کوي،لکه الله تعالى چي د دغه حالت یادونه قرآن کریم کي کړې ده او فرمايي: بَلْ تَأْتِيهِمْ بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَاهُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۴۰﴾سورة الانبياء ترجمه: بلکه رابه سی قیامت دوى له ناڅاپه نو دغه ورځ به دوى حیران کړي نو دوى به نه طاقت لري چي دغه ورځ بیرته رد کړي او نه به دوى ته وخت ورکول کیږي .یعني دغه کفار او ګناهکاران به دومره په محبت او عشق ددنیا اخته وي دومره به په ګناهونو اخته وي چي د قیامت راتګ ته به يې پام هم نه وي، نو ځکه به دوى دومره حیران سي. البته د قیامت د ورځي بیان نبي کریم صلى الله علیه وسلم دومره کړى دى چي د هفتې په ورځو کي به د جمعې په ورځ قیامت راځي د نبي کریم صلى الله علیه وسلم فرمايي :عَنْ اَبِی هرَیْرَةَ رَضِیَ الله قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ : خَيْرُ يَوْمٍ طُلِعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ، وَفِيهِ أُخْرِجَ مِنْهَا، وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ[1] . ترجمه :ابوهريره رضی الله عنه فرمايي :چي نبي صلى الله علیه وسلم و فرمایل :بهتره د ورځو ښخه چي پر هغه باندي لمر راخیژي هغه د جمعي ورځ ده، ځکه په دغه ورځ آدم علیه السلام پیدا سوى دى، او په دغه ورځ جنت ته داخل سوى دى، او په د غه ورځ را ایستل سوى دى د جنت ښخه، او نه به قائیمیږي قیامت مګر په دغه ورځ باندي د جمعې .نو د نبي کریم صلى الله علیه وسلم د حدیث ښخه دا معلومیږي چي قیامت به د جمعې په ورځ وي، خو چي کومه جمعه به وي هغه الله تعالى ته ښه معلومه ده، هره جمعه چي پر انسانانو او پیریانو باندي تیریږي نو د انسان او پیري ماسیوا ټوله حیوانان او ملائکي او ټوله مخلوقات د الله تعالى ښخه بیریږي چي هسي نه په دغه جمعه قیامت راسي،خو متأسفانه په ټوله هفته کي انسانان د جمعې په ورځ ډیر غافله وي او ډیرې ګناوي هم د جمعې په ورځ کیږي .الله تعالى دي موږ ته معافي وکړي او الله تعالى دي موږ ته هدایت وکړي چي د جمعې او نورو ټولو ورځو کي د الله تعالى عبادت وکړو

## دوهم مبحث دصور شپیلۍ او دهغه وخت :

### اول مطلب :

### په شپیلۍ کي پوف کیدل

[1] مشکوم المصابیح جلد ۱ صفحه ۴۲۷

محترمو لوستونکو !د قیامت بیان تر دغه ځا یه راورسېدی چي قیامت به پر شریرو خلګو قائیمېږي د احادیثو او قرآنکریم څخه داسي معلومېږي چي دقیامت شروع به د صور په شپېلۍ باندي کیږي .د صور شپېلۍ په اړه په احادیثو او آیاتو کي پوره تفصیل بیان سوی دی، چي د صور شپېلۍ‌دا یو ښکر دی چي د اسرافیل علیه السلام په لاس کي دی او د الله تعالی امر ته انتظار دی چي کله د الله تعالی د قیامت د راتلو اراده وسي نو اسرافیل علیه السلام ته به امر وکړي چي په د غه ښکر کي پوف کړي، لکه نبي علیه السلام چي په حدیث شریف کي ددغه شپېلۍ یادونه کړې ده .عَنْ عَبْدالله اِبْن عُمَرَ رَضِی الله عَنهمَا :عَنِ النَّبِي صَلّىَ الله عَلَيْهِ وَسَلم قَالَ اَلصُّوْرُ قَرْنٌ يَنْفَخُ فِيْه[1] ترجمه :دعبدالله ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی: چي نبي کریم صلی الله علی وسلم و فرمایل دي چي شپېلۍ‌دا یو ښکر دی چي په دې کي به پوف کیږي .او الله تعالی هم په قرآنکریم کي ددغي شپېلۍ په اړه یادونه کوي او فرمایي : وَ نُفِخَ فِی الصُّوْرِ فَصَعِقَ مَنْ فِی السَّمٰوَاتِ وَمَنْ فِی الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ اُخْرٰی فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُوْنَ ﴿٦٨﴾ سورة الزمر ترجمه :او کله چي پوف کړل سي په شپېلۍ کي نو مړه یا بېهوشه به سي ټول هغه خوک چي په اسمانو کي دي او هغه خوک چي په مځکو کي دي مګر هغه خوک به نه بیهوشه کیږي چي د الله تعالی خوښه وي او وروسته به بیا پوف کړل سي په شپېلۍ کي دوهم وار نو ناڅاپه به دوی ولاړ وي را پورته سوي به وي او ګوري به چي دا څه حالت دی .ددغه آیات څخه داسي معلومېږي چي اول وار به شپېلۍ‌پوف کړل سي نو ټول خلګ به مړه یا بېهوشه سي بیا به څه وخت وروسته دوهمه شپېلۍ‌پوف کړل سي او ټول خلګ به راپورته سي .داد آیات شریف مختصر تفسیر وو او په آیات کي دا خبره راغله چي ټول خلګ به بېهوښه سي ﴿اِلَّا مَنْ شَاءَ اللّٰهُ﴾ مګر هغه خوک به پاته وي چي د الله تعالی خوښه وي .نو بعضي مفسرین دد غه آیات په تفسیر کي لیکي دی چي د﴿اِلَّا مَنْ شَاءَ اللّٰهُ﴾ څخه مراد اول هغه څلور مقربي ملائکي دي چي هغه به ددغه شپېلۍ‌په وجه نه بېهوښه کیږي دوهم یا حملة العرش چي د الله تعالی عرش یې اخیستی دی هغه ور څخه مستثنی دي، یعني هغه به نه بېهوښه کیږي، دریم شهیدان مراد دي چي هغه به هم ددغه شپېلۍ‌په وجه نه بېهوښه کیږي، ددغه په حقیقت یوائي الله تعالی خبر دی چي څوک مراد دی .او بل ددغه آیات څخه دوه واري شپېلۍ‌ثابته سوه چي دوه واري به شپېلۍ‌وهل کیږي، لکه بل ځای چي هم په قرآنکریم کی د دوهم وار شپېلۍ‌یادونه الله تعالی کړې ده او فرمایي :وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِّنَ الْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾ سورة يس ترجمه :او پوف به کړل سي په شپېلۍ کي نو ناڅاپه به دوی وخپل رب ته راوتونکي وي .نو په دغه ایات کي هم دوهم وار شپېلۍ‌ته اشاره سوې ده همدارنګه ددغي شپېلۍ‌بیان د ابو هریره رضی الله عنه په حدیث کي هم سوی دی. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ». قَالُوا: يَا أَبَا هُرَيْرَةَ، أَرْبَعُونَ يَوْمًا؟ قَالَ: أَبَيْتُ.قَالُوا: أَرْبَعُونَ شَهْرًا؟ قَالَ: أَبَيْتُ.قَالُوا: أَرْبَعُونَ سَنَةً؟ قَالَ:أَبَيْتُ.قَالَ:ثُمَّ يُنْزِلُ اللَّهُ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً،فَيَنْبُتُونَ كَمَا يَنْبُتُ الْبَقْلُ، لَيْسَ مِنَ الإِنْسَانِ شَيْءٌ إِلَّا

[1] رواه الترمذی حدیث نمبر ۲۴۳۰

يَبْلَى،إِلَّا عَظْمًا وَاحِدًا،وَهُوَ عَجْبُ الذَّنَبِ، وَمِنْهُ يُرَكَّبُ الْخَلْقُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[1] متفق عليه ترجمه ابو هريرة رضی الله عنه فرمايي چي نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرماييل چي د دوو شپېليو د پوف كيدلو په مابين كي به څلوېښت وي بيا خلگو پوښتنه وکړه چي ای ابو هريرة ايا څلوېښت ورځي به وي د افاصله؟ ددوو شپېليو په مابين كي، نو ابو هريرة رضی الله عنه وايی چي ما انكار وكړی يعني نه يم په خبر، بيا خلگو پوښتنه وكړه چي څلوېښت مياشتي به وي؟ بيا ابو هريرة وايی ما انكار وكړ، بيا خلگو وويل چي څلوېښت كاله به وي؟ نو بيا ابو هريرة وايی ما انكار وكړ يعني نه يم په خبر، بيا به الله تعالی اوبه نازلي كړي له اسمان څخه نو راشنه به سي دا خلگ لكه څرنگه چي سبزي راشنه كيږي، او نه به وي له انسان څخه هيڅ شی هغه دی زوړ سوی نه وي مگر يو هډوكی چي هغه ﴿عجب الذنب﴾ نوميږي هغه به نه زړيږي او ددغه هډوكي څخه به الله تعالی انسان د قيامت په ورځ بيا جوړ كړي دغه عجب الذنب هډوكی د انسان د شا په طرف كي دی دغه هډوكی د تخم حيثيت لري چي د هغه څخه به انسان راشين سی .وای چي كله ټول انسانان د اولی شپېلۍ وروسته مړه سي نو الله تعالی به په لوړ اواز سره دغه جمله ووايی ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ﴾ ترجمه :د چا لپاره ده نن ورځ باچاهي؟ چيري دي ددنيا هغه مغروره بادشاهان؟ نو چي د انسانانو له طرفه جواب رانسي نو الله تعالی به خپله ځان ته جواب وركړي او وبه فرمايي ﴿ لِلّهِ الْوَا حِدِ الْقَهَّا رُ﴾ ترجمه :نن ورځ بادشاهي يوازي د يوه الله تعالی لپاره ده چي قهار ذات دی .

## دوهم مطلب :

### ددوهمي شپېلۍوروسته به څه كيږي؟ اول به څوک راپورته كيږي؟

كله چي د الله تعالی په امر اسرافيل عليه السلام دوهمه شپېلۍپوف كړي نو ټول خلگ به يو په يو راپورته سي، كفار به په ډېر دپرېشانی حالت كي راپورته سي. الله تعالی دغه حالت بيانوي، او فرمايي وَ نفِخَ فِي الصُّورِ فَاِذَا هُمْ مِنَ الْاَجْدَاثِ اِلَى رَبِّهِمْ يَنْسِلونَ ﴿٥١﴾ قَالُوا يَا وَيْلَنَا مَنْ بَعَثَنَا مِنْ مَرْقَدِنَا ۜ هَٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمَٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُونَ ﴿٥٢﴾ سورة يس ترجمه :او پوف به كړل سي په شپېلۍ كي نو ناڅاپه به دوی وخپل رب ته راوتونكي وي، او كفار به ووايی ای زموږ هلاكته! چا موږ راپورته كړو د خپلو قبرونو څخه نو مؤمنان يا ملائكي به ورته ووايی چي دا هغه څه دي چي وعده كړې وه رحمان ذات او رسولانو يې تصديق كړی وو .په دغه الفاظو كي چي الله تعالی فرمايي ﴿ هَذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمن وَ صَدَقَ الْمرْسَلونَ ﴾ دلته د مفسرينو اختلاف دی؛ حافظ ابن كثير رحمه الله په خپل تفسير كي ددغه آيات تر تفسير لاندي ليكلي دي چي دغه جواب به مؤمنان كفارو ته وركوي، او حسن رحمه الله وايی چي

---

[1] صحيح البخاري: كتاب التفسير / كتاب الرقاق صحيح مسلم: كتاب الفتن وأشراط الساعة حديث رقم: ٢٩٥٥ (مسلم)

دغه جواب به كفارو ته ملائكي وركوي، ابن كثير رحمه الله يې تطبيق داسي كوي چي دغه جواب به مؤمنان او ملائكه دواړه كفارو ته وركوي[1] نو اول هغه څوک چي د شپېلۍ وروسته راپورته کېږي هغه به رسول كريم صلى الله عليه وسلم وي، لكه حديث کي چي راځي: عَنْ اَبِي هرَيْرَةَ قَالَ :قَالَ :رَسوْلُ الله صَلى الله عَلَيْهِ وَسَلّمَ :اَنَ سَيِّدُ وُلْدِ اٰدَمَ يَوْمَ القِيَامَةِ ؛ وَاَوَّلُ مَنْ يَّنْشَقُ عَنْهُ الْقَبرُ وَاَوَّلُ شَافِعٍ وَ اَوَّلُ مُشَفَّعٍ[2]. ترجمه :ابو هريرة رضى الله عنه فرمايي :چي نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل :چي زه سردار يم د آولادې څخه د آدم د قيامت په ورځ باندي، او اول هغه څوک يم چي له قبر څخه به راپوته كيږي، او اول شفاعت كوونكى به زه يم، او اول هغه څوک به زه يم چي شفاعت يې قبليږي .نو ددغه حديث شريف څخه دا معلوميږي چي د اول به نبي عليه السلام له قبر څخه راپورته كيږي، او دا د نبي عليه السلام فضيلت هم دى چي كله نبي عليه السلام د قبر څخه راووځي نو وروسته به يو يو سړى له قبرونو څخه راوځي، الله تعالى به بيرته ټولو انسانانو او پيريانو ته روحونه وركړي او ژوندي به يې كړي، او الله تعالى د هر انسان پر راپورته كيدو قادر دى، كه څه هم هغه انسانان ټوټه ټوټه سوي وي يا د حيوانانو په نسونو كي وي يا په دريابو كي د ماهيانو په نسونو كي وي او يا ايرې سوي وي، دغه خلګ به ټول الله تعالى د قيامت ورځي ته د حساب او كتاب لپاره حاضر كړي لكه الله تعالى چي فرمايي : اَيْنَ مَا تَكوْنوْا يَأْتِ بِكُمُ الله جَميعًا اِنَّ الله عَلى كُلِّ شَيءٍ قَدِيْرٌ﴿١٨۴﴾ سورة البقرة ترجمه :هر چيري چي تاسو ياست راتګ به وكړي الله تعالى په تاسو يعني د قيامت او محشر ميدان ته به مو راولي، يقينا الله تعالى پر هر څه باندى قدرت لرونكى دى.

## دريم مبحث :دمحشر ميدان ته دانسانانو پيريانو او حيوانانو راتګ

## اول مطلب

### ايا حيوانات هم د محشر ميدان ته راپورته كيږي ؟

الله تعالى به د محشر ميدان ته ټول انسانان او پيريان راپورته كړي، او د حيواناتو په راپورته كيدو كي د علماؤو اختلاف دى، چي آيا حيوانات به هم د محشر ميدان ته راپورته كيږي كه نه؟ شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمايي :چي الله تعالى به ټول حيوانات د حشر لپاره راپورته كړي ځكه دليل د قرآن كريم دغه آيات بيانوي چي الله تعالى فرمايي: وَاِذَا الْوُحُوْشُ حُشِرَتْ ﴿٥﴾ سورةالتكوير ترجمه :او كله چي وحشي حيوانات را حشر سي د قيامت په ورځ .په همدې ځاى كي الله تعالى د حيواناتو د حشر يادونه كړې ده؛ او بل ځاى

[1] تفسير ابن كثير جلد ٦ صفحه ٥٨١
[2] مسلم جلد ٢ كتاب الفضائل

هم الله تعالى د حيواناتو د حشر په اړه فرمايي: وَ مَا مِنْ دَابَّةٍ فِى الْاَرْضِ وَلَا طَاۤئِرٍ يَّطِيْرُ بِجنَا حَيْهِ الَّا اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِى الْكِتَابِ مِنْ شَىْءٍ ثُمَّ اِلى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ﴿٣٨﴾ سورة الانعام ترجمه :او نه دی یو حیوان چې پر ځمکه کي او نه یو مرغه چې الوزي په خپلو وزرونو باندي، دا نه دي مګر ستاسي په رقم امتونه، موږ نه دي پرې ایښی په کتاب کي هیڅ شی وروسته ددوی ورب لره دوی حشر کيږي .نو ددغه آیات څخه معلوميږي چې الله تعالى به ټول مخلوقات که انسانان دي که پیریان دي که حیوانان دي که مرغان دي دوی به ټول راپورته کيږي، د حساب او کتاب لپاره .دا د شيخ الاسلام رايه ده دده سره ابو هريره رضى الله عنه او عمرو ابن العاص رضى الله عنه او حسن بصرى رحمه الله او داسی نور ....ملګري دي. نو الله تعالى به ټوله حیوانات راپورته کړي او د هر یوه څخه به د هغه د ظلم حساب وکړي، لکه د ابو هريره رضى الله عنه حديث شريف دى :يَحْشُرُ اللهُ الْخَلْقَ كُلُّهمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْبَهائِمَ والطَّيْرَ، وَالدَّوَابَّ، وَكُلَّ شَىْءٍ فَيَبْلُغُ مِنْ عَدْلِ لله اَنْ يَّأْخُذَ لِلْجُمَّآءِ مِنْ الْقرنَاءِ ثُمَّ يَقُوْلُ كُوْنِىْ تُرَابًا[1] ترجمه :ابو هريره رضى الله عنه فرمايي :چې الله تعالى به ټول مخلوق راپورته کړي د قيامت په ورځ لکه چارپايان، مرغان، او حيوانان او هر شى به الله تعالى راپورته کړي، نو هرشي ته به د الله تعالى عدل ورسيږي، حتى د کلې بزې لپاره به د ښکروري بزې څخه قصاص واخلي وروسته به الله تعالى و حيواناتو ته وفرمايي :چې خاوري سئ نو ټول حيوانان به خاوري سي.

## دوهم مطلب :

## دانسانانو د محشر ميدان ته د راتلو بيان؟

د حيواناتو د راپورته کېدو بيان مخکي تېر سو، اوس به د انسانانو د راپورته کېدو او محشر ميدان ته د راوستل کېدو بيان وکړو، ان شاء الله تعالى .دا بيان خو هم وسو چې الله تعالى به انسانان د دوهمي شپېلۍ وروسته راپورته کوي، نو دا خلګ به الله تعالى په داسي حال کي راپورته کړي چې پر بدن به يې جامه نه وي لڅي پښې به وي او ناسنته به وي، لکه د مور څخه چې تازه پيدا سوي وي په داسي حالت کي به وي، لکه نبی عليه السلام چې په دې باره کي فرمايي :عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ:قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ حُفَاةً، عُرَاتًا، غُرْلًا».ثُمَّ قَالَ:«كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَا ۚ إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ»[2].ترجمه :ابن عباس رضى الله عنه فرمايي :چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايي :چې تاسو به حشر کيږئ لڅي پښې، لڅ بدن او ناسنته بيا وروسته نبي صلى الله عليه وسلم دا آيات شريف تلاوت کړی چې الله تعالى فرمايي :لکه څرنګه چې موږ اول وار پيدا کړه په اول خلقت او

---

[1] تذكير القرطبي صفحه ٢٧٣

[2] مشكوة المصابيح جلد ٢ صفحه ٤٨٣

پیدائیښت سره بیا یی موږ راګرځوو، دا دوهم وار راپورته کېدل دا پر موږ وعده ده، او موږ دغه کار کوونکي یو، یعني موږ چې انسانان په لومړي ځل څرنګه پیدا کړه یعني لڅ هم وه او ناسنته هم وه، داسي به یې دوهم وار هم پیدا کړو، او دغه د حشر په باره د نبي علیه السلام حدیث شریف دی : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ:سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:«يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً، عُرَاةً، غُرْلًا».قَالَتْ عَائِشَةُ:فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ جَمِيعًا، يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ؟فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«يَا عَائِشَةُ، الأَمْرُ أَشَدُّ مِنْ اَنْ يَنْظُرَ بَعْضُهُمْ اِلى بَعْضٍ [1] ترجمه:عائشة رضی الله عنها فرمايي :چې ما د نبي صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې ده مبارک وفرمايل چې د قیامت په ورځ به خلګ لڅي پښې لڅ سر او ناسنته وي، نوما ورته وويل :چې ای د الله رسوله خلګ او ښځي ب ځ ټوله وي بعضي به بعضي نورو ته ګوري؟ نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمايل :ای عائشې دقیامت د ورځي حال تر دغه ډېر سخت دی چې بعضي خلګ و بعضو نورو ته وګوري، استغفرالله !دوستانو تاسي دغه حالت ته وګورئ چې نارینه او ښځي لڅ ولاړ وي او بیا هم د یو بل عورت ته یې پام نه وي، ددې ورځي د هیبت او سختی له وجي

## دریم مطلب :

## اول به د محشر په ورځ چا ته جامهورواغوستل سي؟

کله چې انسانان راپورته سي نو ټول به لڅ وي بیا به وروسته ټولو خلګو ته جامېورواغوستل سي ښو خلګو ته به ښه جامې ورواغوستل سي، او بدو خلګو ته به د هغو د عمل برابر جامې ورواغوستل سي، او اول هغه څوک چې د محشر په ورځ به جامه ورواغوستل سي هغه به ابراهیم علیه السلام وي، لکه حدیث شریف کي چې راځي :عَنْ اِبْنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْه اَوَّلُ مَنْ يُكْسى يَوْمَ الْقِيَامَةِ اِبْرَاهِيْمُ [2] ترجمه :ابن عباس رضی الله عنه فرمايي :چې اول هغه څوک چې د قیامت په ورځ به اول جامه ورواغوستل سي هغه به ابراهیم علیه السلام وي ابراهیم علیه السلام ته ځکه اول جامه وراغوستل کیږي چې په دنیا کي نمرود د ابراهیم علیه السلام څخه جامې و ایستلې او بیا یې اور ته ور واچوی، نو ځکه به ده علیه السلام ته د قیامت په ورځ اول جامې وراغوستل کیږي .

---

[1] مشکوة‌المصابیح جلد ۲ صفحه۴۸۳

[2] صحیح البخاري جلد ۲ کتا ب الأنبیاء حدیث نمبر۳۳۴۹ او په مسلم کي هم ذکر دی

## خلورم مطلب:

### دحشر مځکه به څنګه وي؟

کله چي الله تعالی ټول خلګ راپورته کړي د حساب او کتاب لپاره نو دوی به پر جلا بله مځکه وي، دغه مځکه چي اوس موږ پر ګرځو دا به نه وي، بلکه هغه به جلامځکه وي چي ښوی او صاف میدان به وي، هیڅ ابادی او کورونه به نه وي باندي په ایاتونو او احادیثو کي ددې مځکي بحث سوی دی؛ لکه الله تعالی چي فرمایي :يَوْمَ تُبَدَّلُ الاَرْضُ غَيْرَ الاَرْضِ والسَّمٰوَاتِ وَبَرَزُوْا لِله الوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿۴۸﴾ سورة ابراهيم ترجمه :په هغه ورځ چي بدله سي مځکه ماسیوا ددغي مځکي او اسمانو څخه او دوی به ښکاره کیږي الله تعالی لره چي واحد او قهار ذات دی .نو ددغه آیات څخه په څرګند ډول معلومیږي چي دغه د محشر مځکه به جلا بله مځکه وي، او دا به یو سپېره او صاف میدان وي چي ټول انسانان به الله تعالی ویني او انسانان به هم یو تر بله سره ویني، یو تر بله په مابین کي به یې هیڅ فاصله نه وي .او د نبي علیه السلام حدیث شریف هم ددغي ځمکي په اړه دی :عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ:سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:«يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَىٰ أَرْضٍ بَيْضَاءَعَفْرَاءَ،كَقُرْصَةِ النَّقِيِّ»[۱]. ترجمه :سهل ابن سعد رضی الله عنه. فرمایي :چي ما د نبي علیه السلام څخه واورېدل چي فرمایل یې چي د قیامت په ورځ به خلګ پر داسي مځکه حشر سي چي تکه سپینه به وي داسي سپینه او ګول مځکه به وي لکه هغه سپینه غنمینه ډوډۍ ﴿تکی﴾ .دددغه حدیث شریف د﴿عفراء﴾ په لفظ کي اختلاف دی فضیل ابن عیاض رحمه الله فرمایي :چي عفر هغه شي ته وایی چي سپین وي او سور والی ورسره وي، او بل عالم فرمایي :چي عفر خالص سپین والي ته وایی[۲] نو پر هر تقدیر چي دا مځکه به حتمي بدلیږي په دې کي نور نصوص او احادیث هم ډېر سته :عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه ددغه آیات ﴿ يَوْمَ تُبَدَّلُ الاَرْضُ غَيْرَ الاَرْضِ ﴾ په تفسیر کي لیکي چي دا به داسي مځکه وي لکه سپین زر نه به وینه پرې توی سوې وي، نه به ګناه او ظلم باندي سوی وي، دا مځکه به هغه وخت بدلیږي چي کله انسانان پرپُل صراط باندي د تیرېدو لپاره ولاړ سي، لکه یوبل حدیث دی : عَنْ عَا ئِشَةَ سَأَلْتُ رَسُوْلُ اللهِ صلى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ عَزَّوَجَلَّ ﴿ يَوْمَ تُبَدَّلُ الاَرْضُ غَيْرَ الاَرْضِ ﴾ فَاَيْنَ يَكُوْنُ النَّاسُ يَا رَسُوْلُ اللهِ ؟ فَقَالَ :عَلَى الصِّرَاطِ [۳] . ترجمه :عائشه رضی الله عنها فرمایي :چي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه سوال وکی ددغه قول د الله تعالی په اړه چي په د غه

۱صحیح البخاري جلد ۲ صفحه ۴۹۳ کتاب الرقاق

۲فتح الباري جلد ۱۱ صفحه ۳۷۵

۳ صحیح المسلم جلد ۲ کتاب صفات المنافقین

ورځ به دغه مځکه په بله مځکه بدله سي نو ما پوښتنه وکړه چي خلګ به په دغه ورځ او په دغه وخت کي چيري وي؟ اى د الله رسوله !نو نبي صلى الله عليه وسلم راته وفرمايل :چي پر پل صراط باندي به وي .

## پنځم مطلب :

## د قيامت د ورځي حشر او نشر سختي

دوستانو! د قيامت ورځي ته په كمه سترګه مه ګورئ چي دا به يو ورځ وي ددنيا د ورځو په رقم، او الله تعالى به مو وبخښي جنت ته به داخل سو؛ مګر يا دا يو داسي ورځ ده چي نه سترګو ليدلې ده، نه غوږو اورېدلې ده اونه هم په ټوله تاريخ كي ددنيا تيره سوې ده، ددې ورځي د سختۍ له كبله به حمل داره ښځه خپل حمل وغورځوي، د ډېري سختۍ له وجهي الله تعالى ډېر آياتونه ددغي ورځي په باب نازل كړي دي، ددغي ورځي سختي الله تعالى بيان كړې ده، لكه الله تعالى چي فرمايي :يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ.﴿١﴾يَوْمَ تَرَوْنَهَا تُذْهِلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّا أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَارَىٰ وَمَا هُم بِسُكَارَىٰ وَلَـٰكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ﴿٢﴾ سورة الحج ترجمه اې خلګو !ستاسي له رب څخه وبيرېږئ يقينا د قيامت زلزله دا يو ډېر غټ شى ده، په دغه ورځ به ته ووينې هره شيدې وركوونكې ښځه ﴿مور﴾ چي غافله به وي د خپل كوچني څخه چي د اشيدې وركوي، او ايرېدې به ﴿ضائع كوي به﴾ هره حمل داره ښځه خپل حمل چي په نس كي يې دى، او ته به وينې خلګ نشه، او دوى به نشه نه وي، مګر د الله تعالى عذاب به ډېر سخت وي. نو تاسي فكر وكړئ !چي مور خومره پر خپل اولاد مهربانه ده، زوى ته په هر حالت كي شيدې وركوي، كه هر خومره مصروفه وي زوى خامخا په شيدو مړوي، مګر په دغه ورځ به د سختۍ په وجه مور د خپل اولاد څخه غافله وي، د هغه شيدې وركولو ته به يې پام هم نه ور اوړي؛ نو دا به خومره سختي وي؟ او فكر وكړئ !ددې ورځي سختي ته چي يو حمل داره ښځه به ددې ورځي د سختۍ او ويري په خاطر خپل حمل ضائع كړي .نو ددې ورځي دومره سختي ده چي په دغه ورځ به خپل هغه خوارېه دوستان، قريبان او ملګري يو د بل څخه تېښته كوي او د يو بل څخه به بېزاره وي؛ لكه الله تعالى چي په قرآن كريم كي فرمايي :يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ سورة العبس ترجمه :په دغه ورځ به تښتي سړى له خپل ورور څخه، او د مور څخه او د پلار څخه، اود خپلي زوجي څخه او د خپلو اولادو څخه، نو فكر وكړئ هغه مور او پلار چي ځان تر خپل زوى قربانوي، او زوى چي خپل ځان تر مور او پلار قربانوي په دنيا كي، هغه مور پلار او اولاد به له يو بل څخه تېښته كوي، او همدارنګه هغه خاوند او ميرمن چي پنځوس يا شپيته كاله يې د محبت ژوند تېر كړى وي هغه به هم په همدې ورځ له يو بل څه تېښته كوي .

## شپږم مطلب :

## دقیامت په ورځ د انسانانو سخت احوال

١ . دقیامت په ورځ چي کله الله تعالی ټوله انسانان راپورته کړي او بیاد محشر میدان ته حاضر کړل سي نوپه دغه وخت کي به د انسانانو درې قسمه احوال وي؛ یعني بعضي انسانان به په یوه حالت او بعضي به بیا په بل حالت کي وي؛ ١ :قسم متقیان او پرهیزګاران انسانان دي.٢:هغه قسم مؤمنان دي چي ګناهونو یې کړي وي ٣. :قسم کفار او مشرکین دي .په دغه بحث کي به موږ تاسو ته د دغو درو ډلو بیان وکړو چي کوم څوک به په دغه ورځ خوشحاله وي او د خوشحالۍ سبب به یې څه وي، او هغه اعمال به بیان کړو چي په هغه سبب به د الله تعالی متقیان بنده ګان خوشحاله او په راحت کي به وي، او همدارنګه به د هغو اعمالو بیان هم وکړو چي په دغه ورځ به د انسان د خواشیني کولو سبب ګرځي او حالت به یې د افسوس وي، او ددوی هغه اعمال به بیان کړو چي په هغه سبب به دوی خواشیني او په خفګان کي وي .اول به د متقیانو بیان وکړو، هغه اسباب به بیان کړو چي په څه وجه به دوی خوشحاله وي ؟په دغه ورځ به مؤمنان بنده ګان خوشحاله، مطمئن او په سکون کي به وي، دوی به نه غمجن وي او نه به وېرېږي، ځکه دا خلګ د الله تعالی څخه وېرېدونکي وه، پر آخرت او بعث بعد الموت ایمان لرونکي خلګ وه، نو کله چي دوی په دغه ورځ راپورته سي، ملائکي به دوی ته ښه راغلاست ووایي او اطمنان به ورکړي؛ لکه څرنګه چي الله تعالی فرمایي :لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ هَٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴿١٠٣﴾سورة الأنبياء ترجمه :نه دي غمجن کوي دغه مؤمنان هغه لویه بیره چي قیامت دی، او ددوی سره به مخامخ سي ملائکي دوی ته به وایی چي دغه ستاسي ورځ ده چي ستاسي سره یې وعده سوېوه نو﴿الفزع الاکبر﴾ چي په ایات شریف کي ذکر سوی دی ددې څخه مطلب هغه لویه وېره او ډار دی چي دوی به اول وار له قبرونو څخه راپورته سي دغه به سخت حالت وي، خو ملائکي به مؤمنانو ته اطمنان ورکړي چي مه غمجن کېږئ . بل ځای هم الله تعالی د مؤمنانو حال بیانوي او فرمایي: اَلآ اِنَّ أَوْلِياءَ اللهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٢﴾سورة يونس ترجمه :خبردار !یقیناً او لیاء او دوستان د الله تعالی نه به پر دوی باندي وېره وي او نه به دوی غمجن کېږي دقیامت په ورځ، ځکه دوی به په دنیا کي تکلیفونه ګاللي وي سختۍ به یې تیري کړي وي او د یوه رب تعالی عبادت به یې کړی وي، نو ځکه به دوی په ورځ کي د آخرت نه غمجن کېږي، ځکه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دحدیث مفهوم دی چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل :چي الله تعالی وفرمایل :چي زما دي زما په جلال قسم وي زما بنده ته به دوه امنه نه ورکوم، او نه دوه خوفه ورکوم، که چیري زما یو بنده په دنیا کي په آمن کي وو زما له عذابه څخه، زما د عبادت او بنده ګۍ څخه یعني زما عبادت یې نه کوی، کرار او آرام ناست وو؛ نودغه سړي لره په آخرت کي آمن نسته، دی به په آخرت کي په ډېر خوف او وېره کي وي، او کوم زما بنده چي په دنیا کي په آمن کي نه وي وېره او خوف لري زما څخه اوزماعبادت او بنده ګي په صحیح طریقه سره اداء

کوي؛ نو هغه به په آخرت کي په آمن او سلامتيا کي وي، د الله دعذاب څخه او الله تعالی په قرآن کريم کي ددوی په اړه فرمايي :الَّذِيْنَ آمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ ۚأُولَـٰئِكَ لَهُمْ الآمْن وَهُم مُهْتَدوْنَ ﴿٨٢﴾سورة انعام ترجمه :هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی، او نه يې وي ګډ کړی ايمان په ظلم يعنی ﴿شرک﴾دغه کسانو لره امن دی او دوی پر هدايت او سمه لاره تلونکي دي .هغه اسباب چي دهغه په وجه باندي به دوی خوشحاله وي په آخرت کي او ل قسم دهغو اقساموڅخه چي دوی به په خوشحاله وي هغه دادی چي په ورځ کي د قيامت چي لمر به د يوې نيزې په اندازه د انسان له سرونو څخه لوړ وي، احاديثو کي راځي چي د خلګو به داسي حالت وي، چي ځيني خلګ به تر بجلکو پوري په خپلو خولو کي غرق وي، ځيني به تر ځنګنو پوري او ځيني به بيا تر خولې پوري په خپلو خولو کي غرق وي؛ خو دلته د مؤمنانو او متقيانو څخه به يو جماعت او ټولی وي چي هغه به په دغه سخته او لمرينه ورځ د الله تعالی د عرش تر سايې لاندي ناست وي، ددوی بيان به انشاء الله تعالی په تفصيل سره درته بيان سي چي هغه به کوم او څرنګه خلګ وي .د دغه خلګو بيان چي په يو غټ حديث شريف کي حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته کړی او فرمايي :چي دا هغه خلګ دي چي په داسي ورځ به د الله تعالی د عرش تر سايې لاندي وي چي په دغه ورځ به بله سايه نه وي بيله دغه سايې څخه .نو اول هغه ثوک چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم يې موږ ته بيان کړی دی چي د قيامت په سخته ورځ به ددغه عرش تر سايې لاندي ناست وي هغه عادل امام يا بادشاه او واکمن دی چي قدرت، واک او اختيار لري خو بيا هم عدل او انصاف کوي، د مظلوم فرياد اوري او امداد يې کوي، د ظالم د ظلم مخنيوی کوي، او مظلوم ته خپل حق ورکوي ۰دوهم کس د هغو کسانو څخه چي د عرش تر سايې لاندي به وي ، هغه ځوان دی چي ځواني يې ټوله د الله تعالی په عبادت او بنده ګي کيي تېره کړې وي، نه لکه دنن زماني دخلګوچي فکرداسي جوړ سويدی چي اوس خو لا ځواني ده ددنيا يو پنځه ورځي ژوند دی چي هر څه کوې خپله دي خوښه چي کله سپين ږيری سوې بيا به الله تعالی ته توبه وکاږې او عباداتو ته به مخه کړې .دريم کس د هغو کسانو څخه چي د عرش تر سايې لاندي به وي، هغه کس به وي چي يوازي د الله تعالی د رضاء لپاره مسجد جوړ کړي د رياء او سمعت نيت يې نه وي نو دغه کس ته به الله تعالی د عرش تر سايې لاندي په دغه سخته ورځ کي د قيامت پناه او امن ورکړي۰ څلورم کس له هغو کسانو څخه چي د عرش تر سايې لاندي به وي ثوک دی چي دوستي يې هم دالله تعالی د رضاء په خاطر وي او دښمني يې هم د الله تعالی د رضاء په خاطر وي، مقصد ددنيا او دمال دلاسته راوړلو نه وي، همدې شخص ته به هم الله تعالی د عرش تر سايې لاندي پناه ورکړي .پنځم کس له هغو کسانو څخه چي د عرش تر سايې لاندي به وي، هغه ځوان دی چي يو د ښه جمال او مال خاونده ښځه يې بد فعلی ته راوبولي، دغه ځوان پوره قدرت پر لري خو بيا هم د الله تعالی څخه د بېري په خاطر له همدې کار څخه پرهيز وکړي نو همدې کس ته به هم الله تعالی د عرش تر سايې لاندي پناه ورکړي .شپږم کس له هغو کسانو څخه چي د آخرت په ورځ به د عرش تر سايې لاندي وي، هغه شخص دی چي صدقه او خيرات په يوه لاس سره مسکين ته ورکوي هغه بل

لاس یې نه وي په خبرهر څه یې د الله تعالی د رضاء لپاره وي او هیڅ مطلب او مقصد ددنیا نه پکښې لري ، هر څه په پټه ورکوي ، همدې شخص ته به هم الله تعالی د عرش تر سایې لاندې پناء ورکړي.اووم کس له هغو کسانو څخه چې د عرش تر سایې لاندې به وي هغه عابد بنده دی چې ټول عمر یې په زړه کې د الله تعالی سره محبت وي، کله چې د الله تعالی سره یوازې سي نو ذکر کوي او تر سترګو یې د الله تعالی د ېېرې څخه اوښکې راتوی سي، چې ددې په باره کې نور احادیث هم سته لکه د مسلم یو روایت دی :عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ الله قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :«إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي؟ الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي[1] ترجمه: له ابو هريرة رضی الله عنه څخه روایت دی دی وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمایل :چې الله تعالی به د قیامت په ورځ ووایی چیري دي هغه یو تر بله محبت کوونکي زما په عزت او جلال سره یعني زما لپاره یې دا محبت کوی، نن ورځ دوی زه په سایه کې کښینوم چې هغه زما د عرش سایه ده نن ورځ هیڅ سایه نسته ماسیوا زماد عرش له سایې څخه، هغه خلګ چې د الله تعالی د عرش په سایه کې به ناست وي، هغه یوازې د غه خلګ نه دي بلکه نور خلګ هم سته چې په زیاتو احادیثوکې د هغوی بیان سته چې د بحث د اوږدېدوپه خاطر یې تر بیانولو تیرېږم .دا خو هغه اول قسم خلګ وه چې د قیامت په سخته ورځ کې به خوشحاله او په امن کې وي. دوهم قسم هغه خلګ چې د خپل ښه عمل په سبب به ډېر مطمئن او خوشحال وي، هغه څوک دی چې د بل مسلمان حاجات ورپوره کوي :لکه نبي کریم صلى الله عليه وسلم چې په یو حدیث شریف کې فرمایي :عَنْ اِبْنِ عُمَرَ رَضِىَ الله عَنْهُ قَالَ: اَنَّ رَسُوْلُ الله صَلِّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ،وَ مَنْ كَانَ فِىْ حَاجَةِ أخيه كَانَ اللهُ فِىْ حَاجَتِه وَ مَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرّجَ اللهُ عنهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِوَ مَنْ سَترَ مُسْلِمًا سَترَهُ اللهُ فِى الدُّنْيَا وَ الْآخِرَة[2]ترجمه :عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما فرمايي :چې یقینا نبي کریم صلى الله عليه وسلم و فرمایل :یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی نه به ظلم پر ې کوي نه به یې بل چاته ورسپاري، او کوم څوک چې د بل ورور په حاجت کې وي یعني د هغه حاجت ور پوره کړي الله تعالی به دده په حاجت کې وي یعني الله تعالی به دده حاجت ور پوره کړي، او که څوک خلاص کړي یو مسلمان د تکلیف څخه ، نو الله تعالی به دده څخه یو تکلیف لیري کړي د تکالیفو څخه د قیامت، او څوک چې یو مسلمان پټ کړي یعني عیب یې ورپټ کړي نوالله به دی به په دنیا او آخرت کې پټ کړي، نو داټول د متقیانو صفات دي .دریم قسم هغه خلګ د خپل ښه عمل په سبب به ډېر مطمئن وي هغه خلګ دي چې دوی نوروخلګو ته پورونه ورکوي او بیا د الله لپاره د هغه سره سختي نه کوي، تکلیف نه ورکوي د پور په ادآء کولو کې نرمي ورسره کوي ددې په اړه هم د نبي کریم صلى الله عليه وسلم حدیث دی : عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ الله قَالَ اَنَّ نَبِىَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

---

[1] صحيح المسلم جلد ٢ كتاب البر والصله حديث نمبر ٢٥٦٦

[2] صحيح البخاري جلد١ صفحه ٤٣٠ كتاب الأدب حديث نمبر ٦١٣٠

كَانَ رَجُلٌ يُدَايِنُ النَّاسَ فَكَانَ يَقُولُ لِفَتَاهُ إِذَا أَتَتْ مُعْسِرًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ لَعَلَّ اللَّهَ يَتَجَاوَزُ عَنَّا فَلَقِيَ اللَّهَ فَتَجَاوَزَ عَنْهُ [1]

ترجمه: ابو هريرة رضى الله عنه وايى :چي يقينا نبي كريم صلى الله عليه وسلم و فرمايل :چي يو وخت يو سړى وو خلګو ته به يې پورونه ورکول، نو ده به هغه خپل مزدور ته ويل چي کله ته يو مسکين سړي ته د پور اخيستلو لپاره ورسې، او هغه پور اداء کول يې په وسه نه وي پوره، نو هغه پور ور معافوه ښايي الله تعالى موږ ته معافي وکړي؛ نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم و فرمايل :چي هغه سړى د الله تعالى سره يو ځاى سو يعنى وفات سو نو الله تعالى هغه ته معافي وکړه اود هغه تر ګناهونو ور تير سو.څلورم قسم هغه خلګ چي د خپل ښه عمل په سبب به مطمئن وي هغه به شهيدان وي، چي په دې دنيا کي خاص د الله تعالى د رضاء لپاره شهيد سوی وي، همدا شهيدان به وي چي د قيامت په ورځ به مطمئن او ارام وي؛ لکه نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:لِشَّهِيْدِعَنْدَ اللهِ ستُّ خِصَالِ: يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دَفْعَةٍ مِنْ دَمِهِ،وَيُرَى مَقْعَدُهُ مِنَ الْجَنَّةِ،وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ،وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الأَكْبَرِ،وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ،وَالْيَاقُوتَةُ مِنْهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا،وَيُزَوَّجُ اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِيْنَ زَوْجَةً مِنَ الْحُورِ الْعِينِ،وَيُشَفَّعُ فِي سَبْعِينَ مِنْ أَقَارِبِه

[2]ترجمه :نبي كريم كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي چي شهيد لره د الله تعالى په نيزد شپږ خصلته دي؛١ :الله تعالى به د اول څاڅکي ويني د توييدو سره وده ته مغفرت وکړي، ٢ :شهيد به خپل ځاى په جنت کي ووينې، ٣ :شهيد به د قبر له عذابه څخه خلاص وي، ۴ :د هغه لويي بيري څخه به د قيامت په ورځ خلاص وي، ۵ :د شهيد پر سر به د عزت او وقار تاج ور کېښودل سي چي ددغه تاج يو دانه ياقوت به تر دنيا او تر هغه څه چي په دنيا کي دي غوره وي، ٦ :او شهيد ته به٧٢ حوري ور په نکاح سي او د ٧٠ قريبانو په حق کي به يې شفاعت قبول سي.د شهيدانو ډېر فضائل احاديثو کي بيان سوي دي، نو شهيد به هم د آخرت په ورځ له هغه خلګو څخه وي چي په دغه لويه ورځ به مطمئن او آرام وي .پنځم قسم هغه خلګ چي د خپل ښه عمل په سبب به مطمئن وي، هغه خلګ دي چي خپلي غصي کنټرولوي، زغم او حوصله ولري، پر هر شي درد نه ورخي، غصه نه کوي، او دغه صبر او زغم يې ټول يوازي د يوه الله تعالى د رضاء په خاطر وي نو دغه بعينه اسلامي اخلاق دي، او د مؤمن ډېر لوى صفت دى الله تعالى د دوى په اړه باندي فرمايي: الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ۗ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ»﴿١٣٤﴾سورة آل عمرآن ترجمه :او هغه کسان چي نفقه کوي په خوشحالۍ او غم کي او خوړوونکي وي د غصي او عفوه کوونکي وي وخلګوته او الله تعالى احسان کوونکی خوښوي .داد آخرت په ورځ د هغو خلګو بيان ؤ چي په هغه ورځ به خوشحاله وي او زړونه به يې مطمئن وي .اوس به په دوهم قسم شروع وکړو، چي دقيامت په ورځ به دومره خو مطمئن وي چي ايمانونه يې پر الله تعالى او نبي صلى الله عليه وسلم او اخرت راوړي وي، لکن خوابدي

[1] مشکوة المصابيح جلد ٢ صفحه ١٠٨ کتاب الفضائل

[2] سنن الترمذي جلد٢ صفحه ١۴۴ کتاب الجهاد باب فضل الشهيد

به په دې وي چې دوی به ډېر لوی او کبیره گناهونه کړي وي، که څه هم د غه رنگه خلگ ډیردي دبعضو بیان به وکړو؛ اول قسم د هغو مؤمنانو څخه چي گناه کاره وي، او د آخرت په ورځ سخت په افسوس اخته وي هغه د زکات نه ادآء کوونکی دی، زکات دا د الله تعالی د حقوقو څخه یو حق دی چي دزکوةپه ورکولو باندي الله تعالی راضي کیږي، او پر نه ورکولو باندي یې ډېر ناراضه کیږي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم د زکات نه ورکوونکي عذاب بیان کړی دی، او فرمایي :عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ الله قَالَ :قَال: رَسُوْلُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ، مُثِّلَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ،لَهُ زَبِيبَتَانِ، يُطَوَّقُهُ ثُمَّ يَقُولُ: "أَنَا مَالُكَ، أَنَا كَنْزُكَ"[1] ترجمه :ابو هریرة رضی الله عنه فرمایي :چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :چي چا ته الله تعالی مال ورکړی وي او دی یې ز کات نه اداء کوي دده مال ته به صورت ورکول سی د قیامت په ورځ د هغه یک مار په رقم وي چي پر سر باندي دوه ټکي لري دغه مار به ددغه سرې پر غاړه طوق سي او د غه مار به ورته وایی :چي زه ستا مال یم او زه ستا خزانه یم.نو دا د هغه چا سزاء ده چي په دنیا کي خو به مؤمن وي مگر سخت گناهکاره به وي .دوهم قسم د هغو خلگو څخه چي دقیامت په ورځ به خوابدي وي چي ایمان هم ولري او بیا به هم خوابدی وي، هغه متکبر انسان دی، تکبر هم یو ډېر بد او ناوړه عمل دی چي په یو چاکي راسي، ددغه متکبر انسان لپاره هم الله تعالی سخت عذاب په ورځ دقیامت مقرر کړی دی، دهغه عذاب دادی چي د قیامت په ورځ به ډېر ذلیل او خوار راپورته کیږي، ددوی د راپورته کیدو اندازه چي دوی به د محشر میدان ته راپورته کیږي د سورکي میږیانو په اندازه به وي، هغه میږیان چي خلگ یې نهویني هر وخت او هر ځای تر پښو لاندي ذلیل وي؛ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددوی په اړه داسي فرمایي :عَنْ عَمْرِو ابْنَ شُعَيْبٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قَال: رَسُوْلُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْشَرُ اَلْمُتَكَبِّرُوْنَ يَوْمَ القيامةِ أمثالَ الذُّرِّ فِي صُوَرِ الرِّجَال يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِن كلِّ مَكَانٍ[2] ترجمه :د عمرو بن شعیب نیکه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي :چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل :متکبرین خلگ به د هغه سورکي میږیانو په مثال سره راپورته کیږي دقیامت په ورځ، او دوی به سم د خلگو په صورتونو کي وي، دوی به د هره طرفه څخه په ذلالت کي پټ وي .یعني دومره ذلیله به وي چي خلگ به یې تر پښو لاندي کوي، او حتی دا به هم نه وایی چي دا انسان دی او که کوم بل شی، ځکه به دوی دومره ذلیل وي چي دوی په دنیاکي تکبرکوی،اوخلگ یې تر ځان ذلیل گڼل .دریم قسم د هغو مؤمنو بنده گانو څخه چي گناهکاره به وي او په اخرت کي به ناآرامه او ناراحته وي، هغه د علم پټوونکي دي، داهم سخته گناه ده چي الله علم ورکړی وي، حق او باطل ورته معلوم وي بیا هم د یوچا د وهم څخه فیصله د حق نه کوي، یا حق نه وایي، یا یو مسئله ورته معلومه وي چي دا حق ده خو د ضد او عناد له وجهي پر باطل باندي دربږي، داسي

---

[1] مشکوة المصابیح جلد ۲صفحه ۱۰۰ کتاب الزکوة

[2] مشکوة المصابیح جلد۲ صفحه ۴۳۳ کتاب الآداب

ډېري مسئلې سته، دغو خلګوته به الله تعالی په نظر د رحمت سره ونه ګوري لکه څرنګه چي الله تعالی د یهودو د په اړه داسي فرمايي کله چي دوی د نبي عليه السلام نبوت پټوی له خلګو څخه :إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنزَلَ اللَّهُ مِنَ الْكِتَابِ وَيَشْتَرُونَ بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۙ أُولَٰئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴿١٧٤﴾ سورة البقره ترجمه :هغه کسان چي دوی پټوي هغه څه کوم چي الله تعالی په کتاب کي نازل کړي دي، او دوی رانيسي په دغه کتاب سر ه لږ پيسې دغه کسان نه خوري په نسونو مګر اور او الله تعالی به ددوی سره خبري هم ونه کړي د قيامت په ورځ، او نه به دوی پاک کړي، او دوی لره دردونکی عذاب دی .ددغه کتمان العلم په باره کي ډېر آياتونه او احاديث سته، او ددغو آياتو او احاديثو يعني کتمان العلم مصداق خلګ او س ډېر پيدا کيږي، چي بعضي د خپلي وظيفې په وجه او بعضي د خپل امامت په وجه او بعضي په بله وجه سره بل چا ته حق نه سي بيانولای .ددې اقسام ډېر دي د بحث د اوږدېدلو په خاطر به داپرېږدو او دريم قسم شروع کوو .

دريم قسم د احوال الناس يعني د خلګو د احوالو څخه ، هغه به کفار وي .دقيامت په ورځ به د کفارو هم ډېر سخت بد او ذليله حال وي، ځکه دوی هغه خلګ وه چي په دنيا کي يې ظلمونه کول، پر الله تعالی، د هغه پر رسول، پر ورځ دقيامت او پر بعث بعد الموت يې ايمان نه درلودی، نو چي کله دوی راپورته سي، نو حيران به سي، چي دا خو ټوله ربنتيا او حق خبري وې، هم الله تعالی سته، هم نبيان سته، هم دقيامت ورځ سته، او هم بعث بعد الموت سته .نو ځکه به دوی دومره خوابدي، او حيران وي، سترګي به يې شخي پاته وي، الله تعالی ددوی حال په قرآن کريم کي بيانوي او فرمايي :وَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ غَافِلًا عَمَّا يَعْمَلُ الظَّالِمُونَ ۚ إِنَّمَا يُؤَخِّرُهُمْ لِيَوْمٍ تَشْخَصُ فِيهِ الْأَبْصَارُ﴿٤٢﴾ مُهْطِعِينَ مُقْنِعِي رُءُوسِهِمْ لَا يَرْتَدُّ إِلَيْهِمْ طَرْفُهُمْ ۖ وَأَفْئِدَتُهُمْ هَوَاءٌ ۖ﴿٤٣﴾ سورة ابراهيم ترجمه :او ته ګمان مه کوه پر الله چي هغه غافله دی د ظالمانودعمل څخه بلکه يقينا ځنډول سوي دي دوی د هغه ورځي لپاره چي رډي به پاته کيږي په هغه ورځ کي سترګي دډېره هيبته څخه، چابکي کوونکي به وي پورته نيوونکي به وي سرونه ددوی د بيري څخه ددې ورځي، نه به راګرځي دوی لره ددوی سترګي يعني د ډېري بيري څخه به يې سترګي رډي پاته وي رپولای به يې نه سي، او زړونه ددوی به خالي وي له هر څه څخه، يعني دومره به حيران او په بېره کي وي چي سترګي به يې رډي وي او زړونه به يې خالي وي له هر څه څخه، نه به څه ويلای سي او نه به شا او خوا کتلای سي ، او بل ځای هم الله تعالی د کفارو حال بيانوي او فرمايي :وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا﴿٤٠﴾ سورة نبأ ترجمه :او کافر به وايي چي کاش چي زه خاوري وای .يعني کله چي کفار له قبرونو څخه راووځي او د قيامت سختي ووينې نو دا خبره به وکړي چي کاشکي زه نه وای راپورته سوی .

## اووم مطلب :

## کفارو چي په دنیا کي کوم ښه عملونه کړي وي آیا په آخرت کي به د هغو فائدهوررسیږي؟

کفاروپه دنیا کي هم ښه اعمال کړي دي، مثلاً چا به خیرات یا صدقه ورکړې وي، یا به یې د یو بنده سره نیک چلند کړی وي یا داسي نور ...نو دا اعمال چي دوی کړي دي دا فائده کوي او که یې نه کوي؟ کفار دوه قسمه دي اول: قسم هغه کفار دي چي د لویه سره اعمال نه کوي هیڅ ښه عمل نه کوي، او نه دا عقیده لري چي دا ښه عمل ګټه لري؛ دغه کفار خو هیڅ عمل نه لري.دوهم :قسم کفار یا اهل کتاب دي چي دا عقیده لري چي ماته ښه اعمال په آخرت کي فائده کوي، خو دوی پر حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ایمان نه لري، نو ددوی اعمال لکه هغه سراب داسي عبث دي، هیڅ ګټه او نفعه دوی ته په آخرت کي نه کوي، ځکه دوی مؤمنان نه دي لکه الله تعالی چي فرمايي:وَالَّذِينَ كَفَرُوٓاأَعۡمَالُهُمۡ كَسَرَابٍ﴿٣٩﴾ سورة نور ترجمه :او هغه کسان چي دوی کفر کړی دی ددوی اعمال داسي دي لکه سراب نو خلاصه داچي کفارو ته ددوی هیڅ عمل ګټه نه کوي

## خلورم مبحث شفاعت او دهغه اقسام

## اول مطلب

### شفاعت

کله چي د محشر میدان ته هغه دري جماعته راجمع سي چي مؤمنان، ګناهکاره مؤمنان او کفار دي، نو چي کله دوی ټوله په دغه میدان کي راجمع سي په دغه میدان کي به ډېره ګرمي وي، لمر به د انسانانو له سرونو څخه د یوې نېزې په اندازه لوړ ولاړ وي، چي ځیني خلګ به په داسي حال کي وي چي تر بجلکو پوري به په خپلو خولو کي وي، ځیني به تر ځنګنونو پوري او ځیني به بیا تر ځیګره پوري په خپلو خولو کي غرق وي، نو دغه خلګ به په عذاب سي، او د شفاعت غوښتنه به وکړي .

## دوهم مطلب

### دشفاعت اقسام

شفاعت پر دوه قسمه دی١ :شفاعت کبری ﴿لوی شفاعت﴾ ٢ :شفاعت صغری﴿ کوچنی شفاعت ﴾ د شفاعت کبری تعریف :کله چي انسانان ډېر په عذاب او تکلیف سي په خولو کي غرق اولمر يې تر سر يوه نېزه لوړ وي، نو يو ټولی خلگ به سره راجمع سي چي انبياء کرامو عليهم السلام ته به خواست وکړو چي الله تعالی ته زاری وکړي ترڅو حساب شروع کړل سي؛ نو دغه ټولی خلگ به اول حضرت آدم عليه السلام ته راسي او ورته وبه وايی :چي ای د ټولو انسانانو پلاره !ته الله تعالی ته دعاء او زاریۍ وکړه چي الله تعالی شفاعت شروع کړي، نو آدم عليه السلام هغه خپله گناه ورته ياده کړي چي الله تعالی زه د غنمو له خوړلو څخه منع کړی وم، مگر ما هغه وخوړل، نن الله تعالی ډېر په قهر دی نه ددې ورځي تر مخه او نه به تر دې ورځي وروسته دومره په قهر سي زه يې نه سم کولای تاسو و ابراهيم عليه السلام ته ورسئ او هغه ته ووایاست، نو چي کله خلگ راسي و حضرت ابراهيم عليه السلام ته او ورته ووايی چي ای د انبياؤ پلاره !ته الله تعالی ته دعاء وکړه چي حساب شروع کړي، خلگ ډېر په تکليف دي، نو هغه به هم خپله گناه ورته بيان کړي او وبه وايی چي الله تعالی نه له دغه مخکي او نه به له دې ورځي وروسته دومره په قهر سي، زه يې نه سم کولای تاسو ورسئ و حضرت موسی عليه السلام ته، مگر مو سی عليه السلام به هم هغه جواب ورکړي چي زه يې نه سم کولای، تاسي ورسئ و حضرت عيسی ابن مريم عليه السلام ته کله چي دوی و حضرت عيسی ابن مريم عليه السلام ته راسي نو هغه به هم همداسي يو عذر ورته و کړي چي زه يې نه سم کولای تاسو ورسئ حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ته کله چي خلگ و حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ته راسي او غوښتنه د شفاعت ورځخه وکړي تر څو حساب شروع سي، نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايي :چي هو دغه اکرام چي مقام محمود دی هغه الله تعالی وماته راکړی دی، نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم به هم د الله تعالی و طرف ته ولاړ سي او د الله تعالی څخه به د شفاعت کبری اجازه وغواړي، او الله تعالی به هم د شفاعت اجازه ورکړي، نو نبي عليه السلام به داسي د الله تعالی حمد او ثناء ووايی چي له دغه څخه به مخکي هيڅ چا همداسي الله تعالی نه وي ستايلی او نه به يې د الله تعالی داسي حمد او ثناء بيان کړي وي؛حضرت نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي :چي دغه حمد او ثناء به ماته الله تعالی را زده کړي، چي له دې مخکي داسي حمد او ثناء هيڅ چا ته نه دي ښودل سوي؛نو بيا به نبي عليه السلام پر سجده سي، او الله تعالی ته به زاریۍ وکړي، الله تعالی به ورته وفرمايي :چي ای محمده صلی الله عليه وسلم سوال وکړه !سوال به دي قبول سي او شفاعت وکړه شفاعت به دي قبول سي؛ نو به په دې وخت کي نبي کريم صلی الله عليه وسلم خپل سر له سجدې څخه راپورته کړي او هر ځل به دا جمله تکراروي چي ز ما امت !زما امت !نو تر دغه وروسته به الله تعالی حساب شروع کړي دا خو د شفاعت کبری يعني لوی

شفاعت تعریف سو۰[١] ۰دوهم قسم شفاعت صغرى که څه هم دغه شفاعت د حساب او کتاب وروسته او یا دحساب او کتاب په جریان کي کیږي خو لکن د بحث د مناسبت په خاطر به یې د شفاعت کبرى سره ذکر کوو .شفاعت صغرى :هغه شفاعت دی چي ددې په سبب سره به الله تعالی ډېر گناهکاره بنده گان د نبي علیه السلام په شفاعت سره له اوره خلاص کړي او جنت ته به یې داخل کړي .ددغه شفاعت په باره کي ډ ېر احادیث سته چي نبي کریم صلى الله علیه وسلم د خپلو ټولو گناهکارو امتیانو شفاعت کوي، او نبي علیه السلام به تر هغو پوري جنت ته نه ځي ترڅو چي د نبي علیه السلام یو امتي په جهنم کي وي، او همدارنگه به شفاعت یوازي نبي علیه السلام نه کوي بکله په دغه شفاعت صغرى کي نور څو قسمه شفاعت هم سته؛ لکه د شهیدانو شفاعت د نبي علیه السلام حدیث دی چي مخکي تیر سو چي شهید به په خپله کورنۍ کي د اوویا کسانو شفاعت کوي، یا لکه د هغه علماؤ شفاعت چي په خپل علم یې عمل کړی وي چي هغه به هم د خپلوقریبانو شفاعت کوي، یا لکه هغه ماشومان چي بلوغ ته د رسیدو څخه مخکي وفات سوي وي نو دوی به هم د خپلو والدینو شفاعت کوي، یا د انبیاء علهم السلام شفاعت چي د خپلو امتونو په حق کي به یې کوي، او یا لکه د ملائکو شفاعت، یا د قرآنکریم شفاعت، یا د روژې شفاعت یا بل قسم شفاعت چي مؤمنان وي جنت ته ولاړ سي، مگر درجې یې کښته وي، خو دخپل نبي د شفاعت په واسطه یې درجې لوړي سي .نو دا ټول شفاعتونه به د قیامت په ورځ کیږي کوم چي اثبات یې په آیاتونو او احادیثو سره سوی دی .البته دا شفاعت یو څو داني شرطونه لري، دهغه چا په باره کي چي د هغه شفاعت کیږي ١ : شرط دادی چي دکوم چا چي شفاعت کیږي هغه باید مؤمن موحد وي او ددغه توحید پر عقیده مړ سوی وي، پر الله تعالی او د هغه پر رسول صلى الله علیه وسلم یې ایمان راوړی وي .٢ : شرط دادی چي دغه شفاعت کوونکی به د شفاعت کولو اجازه دالله تعالی څخه غواړي، بیله اجازې څخه دالله تعالی د هیڅ چا شفاعت د هیڅ چا لپاره نه قبلیږي؛ لکه څرنگه چي الله تعالی فرمایي : يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَـٰعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَـٰنُ﴿١٠٩﴾ سورةطه ترجمه :په دغه ورځ گټه نه کوي شفاعت مگر هغه چا ته گټه کوي چي رحمن ذات هغه ته د شفاعت اجازه ورکړي، نو بیله د الله تعالی د اجازې د چا شفاعت گټه او فائده نه کوي .٣ :شرط دادی چي دغه سړی چي شفاعت ورته کیږي، کافر به نه وي، ځکه په دغه ورځ د کافر لپاره هیڅ یو شفاعت کوونکی نسته لکه څرنگه چي الله تعالی فرمایي: مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ ﴿١٨﴾ سورةمؤمن ترجمه :او نسته ظالمانو لره هیڅ یودوست او شفاعت کوونکی .تنبیه :آخري خبره د شفاعة په باره کي باید دا هم وکړو چي هیڅ څوک باید پر شفاعت باندي داسي تکیه ونکړي چي اعمال خراب کړي، یعني داسي چي ایمان راوړي نور نو هیڅ ښه اعمال نه کوي، دلیل دا وایی چي د آخرت په ورځ به مو نبي کریم صلى الله علیه وسلم شفاعت کوي بیله کومي سزاء به جنت ته داخل سو؛ یا بلکه داسي نه ده لکه څرنگه چي ددوی فکر دی ځکه داسي خلگ هم سته چي الله تعالی به

---

١صحیح البخاری جلد ٢ صفحه ٥٠٠ کتاب التوحید

يې جهنم ته داخل کړي او بيا به يې نبي کريم صلی الله عليه  وسلم شفاعت وکړي او د جهنم څخه به راووځي، نو د بدو اعمالو او خرابو کارونو لپاره بايد حيلې او بهانې جوړې نه سي، ځکه جهنم ته داخليدل هم کوچنۍ خبره نه ده .

## پنځم مبحث  :اعمالنامې

## اول مطلب :

## اعمالنامې

کله چې الله تعالی ټول خلګ په محشر سره راجمع کړي او بيا د نبي کريم صلی الله عليه  وسلم په شفاعت باندي حساب او کتاب شروع کړل سي نود حساب او کتاب څخه مخکې به الله تعالی هر بنده ته خپله عملنامه يا کتاب ورکړي، چې پر ډېرو ورقو باندي به مشتمل وي، په دغه کتاب کې به د هغه ټول اعمال ليکل سوي وي، چې دغه بنده به په خپله ټوله زنده ګي کې کړي وي، هغه که ښه اعمال وي او که بد اعمال وي هغه به ټول په ليکلې ډول ورکول سي، او د ورکولو طريقه به يې  جلا وي؛ هغو خلګو ته چې د الله تعالی بنده ګي او عبادت يې کړی وي، او ښه اعمال يې ترسره کړي وي، هغه ته به خپله عملنامه په راسته لاس او د مخ له خوا ورکول سي، او له دې سره به دغه بنده ډېرخوشحاله سي؛ او هغه بنده  چې د الله تعالی بنده ګي يې سمه نه وي کړې عبادت يې نه وي، او بد اعمال يې ډېر وي، هغه شخص ته به دده عملنامه په چپه لاس او د شا لخوا ورکول سي، او دغه شخص به ډېر خواشينی او خوابدی سی او پر خپل حال به افسوس وکړي .لکه چې الله تعالی په قرآنکريم کې ددغو دوو ډلو بيان کړی دی او فرمايي :فَأَمَّا مَن أُوتِيَ كِتَـٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ﴿٧﴾فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا﴿٨﴾ سورة انشقاق ترجمه :نو هر هغه څوک چې ورکول سي  دده کتاب په راسته لاس باندي، نو ژر دی حساب به وسي  ډېر آسانه او لږ حساب يعني دغه په راسته لاس عملنامه ورکول دا بس ددغه بنده کاميابۍ ته يو اشاره ده، نو چې په عملنامه کې يې کار سم سي، نو حساب به هم اسانه ورسره کول کيږي  .او الله تعالی ور پسې آيات کې فرمايي: وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَـٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ﴿١٠﴾فَسَوْفَ يَدْعُو ثُبُورًا ﴿١١﴾ سورة انشقاق ترجمه : او هر هغه څوک چې ورکول سي دده عملنامه د شا له طرفه او په چپه لاس نو ژر ده دغه شخص به راوغوښتل سي خوار او تاواني . يعني کله چې دغه شخص ته په چپه لاس عملنامه ورکول سي نو دغه سړی به ډېر غمجن او تاواني سي او وبه وايی :"مَا لِهَـٰذَا ٱلْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا"﴿٤٩﴾ سورة کهف ترجمه :څه پېښ دي دغه کتاب لره چې نه يې کوچنۍ ګناه او نه يې غټه ګناه پر ېښې ده مګر هغه يې ليکلې ده، يعني په دغه کتاب کي ددې بنده هره ګناه که کوچنۍ وي او که غټه که په  قصد سره وي او که په خطاء سره هغه به ليکل سوي وي .

# شپږم مبحث: حساب او په هغه کي اختلاف

## اول مطلب :

### حساب

کله چي ټولو بنده ګانو ته عملنامې ورکړل سي نو دوی به خپل اعمال ګوري چي حساب به شروع سي حساب به داسي وي، چي ټول خلګ به الله تعالی ته مخامخ ولاړ وي، هر بنده به د حساب لپاره د هغه او د هغه د پلار په نامه راوغوښتل سي، يعني فلانی د فلاي زوی دي راسي، دالله تعالی و حضور ته او د خپل تير سوي عمر حساب دي ورکړي، نو دهر بنده څخه به د هغه د ښه عمل او د هغه د بد عمل پوښتنه کيږي، چي ښه عمل دي کړی دی د چا لپاره دي کړی دی او بد عمل دي کړی دی ولي دي کړيدی نو د ټولو شيانو به پوره پوښتنه کيږي، او بيا به فيصله هم کيږي، دحق فيصله لکه دا حال چي الله تعالی بيانوي او فرمايي : وَأَشْرَقَتِ ٱلْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ ٱلْكِتَٰبُ وَجِاْىٓءَ بِٱلنَّبِيِّۦنَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِٱلْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿٦٩﴾ سورة زمر ترجمه :او روښانه به سي مځکه ددغه مځکي د رب په نور سره او کيښودل به سي عملنامې او راتګ به وسي په انبياؤ او شاهدانو سره چي ملائکي دي او فيصله به وسي ددوی په مابين کي په حقه سره، اوددی سره به ظلم نه کيږي، يعني دحساب په وخت کي به الله تعالی هم حاضر وي، ټول انبيآء، ټول ملکي او ټول انسانان به حاضر وي، او حساب به کيږي، دا به ډېر د رسوايی حالت وي، چي ستا ګناه ددغه ټولو په وړاندي ښکاره سي.د قيامت په ورځ چي الله تعالی د بنده ګانو سره حساب کوي دا حساب پر درې قسمه دی :۱ :سخت حساب .۲ :اسانه حساب .۳ :بې حساب جنت ته تلل : .۱سخت حساب :دا حساب به له کفارو سره وسي، سخته مناقشه او بحث به ورسره وسي، چي ولي مو پر الله تعالی او د هغه پر رسولانو ايمان نه راوړی؟ حال دا چي استازي او رسولان دراستول سوي وه .او په دغه اول قسم کي به د بعضې مؤمنانو سره هغه مؤمنان کوم چي يې ډېر بد اعمال يې کړي وي، او ډېر ګناهونه يې کړي وي، نو الله تعالی به ددوی سره هم سخت حساب وکړي ۲:قسم اسانه حساب :چي دا به د مؤمنانو حساب وي، چي الله تعالی به پر دوی باندي ددوی ټول ګناهونه عرض کړي او بيا به عفوه او بخښنه ورته وکړي۳ :قسم بيله حسابه جنت ته داخليدل :داهم د مؤمنانو لپاره دی چي دا به يو جماعت خلګ وي چي بيله حسابه به جنت ته داخل کړل سي.

## دوهم مطلب :

### آیا حساب به د کفارو اومشرکانو سره به کیږي ؟

نو په دې خبره کې د علماوو اختلاف دی، شیخ االسلام په مجموع الفتاوی کې دغه اختلاف ذکر کړی دی، بعضي متأخرين علماء وایی چې د کفارو او مشرکينو سره به حساب نه کيږي، ځکه ددوی اعمال ټول ضائع دي؛ خو بعضي نور علماء بیا وایی چې حساب به ورسره کیږي . حق خبره داده چې هو !د کفارو او مشرکينو سره به حساب کيږي[1]، ددوی څخه دا پوښتنه حتمي وکړل سي چې تاسي ولې د یوه الله تعالی عبادت نه کوی؟ ولې مو د الله تعالی سره شریکان نیول؟ او همدارنګه د هغه شریکانو پوښتنه به هم ورڅخه وکړل سي چې چیرته دي هغه شریکان چې تاسي د الله تعالی سره نیولي وه؛ لکه څرنګه چې الله تعالی ددوی دغه حال په قرآنکریم کي بیانه وي او فرمايي :وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٦٢﴾ سورةقصص ترجمه :او په دغه ورځ به اواز وسي دوی لره نو ورته وبه وایی چیري دي هغه زما شریکان؟ چې تاسو ګمان کوی چې داد الله تعالی شریکان دي .نو ددغه آیات څخه صراحتاً دا معلومیږي چې د مشریکانو څخه سوال او جواب کیږي .د قیامت په ورځ به د مؤمن څخه اول د لمانځه پوښتنه کیږي، چې تالمونځ کوي او که نه؟ او څرنګه لمونځ دي کوی؟ د ریاء لپاره وو او که یوازي د الله تعالی لپاره، نو که یې لمونځ سم وو نو نور اعمال به یې هم سم وي، او که یې لمونځ خراب و نو ډیر به تا وانی سي لکه څرنګه چې د نبي کريم صلی الله علیه وسلم حدیث شریف دی عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ يَقُولُ:أَوَّلُ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلَاتُهُ، فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ افْلَحَ وَاَنْجَحَ ، وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْخَابَ وَخَسِرَ[2]ترجمه :ابو هريرة رضی الله عنه فرمايي :چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واورېدل چې هغه داسي وويل اول دی .نو باید هر مؤمن پر لمانځه باندي ډېر کوښښ وکړي چې ایزده یې کړي او بیا یې سم او صحیح اداء کړي؛ ځکه په آخرت کې که دده لمونځ هغه څه چې حساب به کیږي د بنده سره دقیامت په ورځ دده د عمله څخه هغه به د لمانځه وي، که یې چیري لمونځ صحیح وو نو کامیاب او خلاص دی، او که یې لمونځ فاسد وو نو یقینا تاواني او خوار صحیح وو نو نور اعمال او اقوال به یې هم سم وي خو که یې لمونځ صحیح نه وو نو ډېر به پښیمانه او تاواني وي .

.او بیابه د هر بنده څخه چې دده د ژوند پوښتني کیږي، په هغه کي به دده څخه دده د عمل پوښتنه وسي چې نیک عمل دي کړی دی او که نه؟ او ښه اقوال دي کول او که دي بد اقول ویل .نو دا پوښتني به حتما کیږي؛ لکه الله تعالی چې فرمايي: فَوَرَبِّكَ لَنَسْأَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴿ ٩٢ ﴾عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾ سورة حجر ترجمه نوقسم دی ستا په رب باندي

---

[1] مجموع الفتاوی جلد۴ صفحه ۳۰۴

[2] مشکوة المصابیح جلد ۱ صفحه ۱۱۷ کتاب الصلوة

چي خامخا موږ پوښتنه کوو ددوی څخه دهغو اعمالو چي په دنا کي دوی کړي وي ، او لکه د نبي عليه السلام د حديث شريف مفهوم دی چي د يو بنده قدم به ددغه ځايه څخه ونه ښوربږي چي ددغه څلورو شيانو پوښتنه نه وي ترې سوې .۱ :د عمر پوښتنه چي په څه کي دي تير کړی؟ ۲ :د علم پوښتنه چي عمل دي په کړی وو او که نه؟ ۳ :د مال پوښتنه چي مال دي چيري مصرف کړی ؟ ۴ :د جسم او بدن پوښتنه په دغه باره کي ډېراحاديث سته، چي په د غه لويه ورځ به د قيامت د بنده څخه د هغه په اړه کيږي .او بله لويه پوښتنه چي د بنده څخه به کيږي هغه د نعمتونو پوښتنه ده، چي الله تعالی به بنده ته وايی چي هر نعمت مي درکړی وو :اولادونه، ځواني، مال، دولت، ښه کور او ښه موټر ، آيا ددغه نعمتونو شکر تا اداء کړ؟ددې پوښتنه به هم حتمي کيږي؛ لکه الله تعالی چي فرمايي : ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ ﴿٨﴾ سورة تکاثر ترجمه :وروسته به خامخا پوښتنه وسي په دغه ورځ د نعمتونو څخه .مجاهد رحمه الله فرمايي : چي د بنده څخه د هر خوند اولذت چي په دنيا کي يې حاصل کړی دی، دهغه پوښتنه به کيږي .سبحان الله .او حسن بصري رحمه الله فرمايي :چي د سهار او ماښام د هر نعمت پوښتنه به کيږي؛ او ابو قلابه رحمه الله فرمايي :چي د هغي سپيني ډوډی چي په غوړو يا عسلو غوړه سي د هغه پوښتنه به هم کيږي، مطلب داچي بنده په دنيا کي کوم شی وخوري، کوم شی وڅښي او کوم شی واغوندي د هغه پوښتنه به الله تعالی حتمن کوي .او بله ډېره سخته پوښتنه چي د بنده ګانو څخه به کيږي؛ هغه د خولې، پزې، غوږ، سترګي پوښتنه ده، الله تعالی به بنده ته فرمايي :چي خوله مي درکړې وه په هغه دي څه ويل، آيا ښه اقوال دي ويل، امر بالمعروف او نهي عن المنکر دي کوی، که دي ښکنځل او بد الفاظ باندي ويل، او سترګي مي درکړي وې، نو آيا د قرآن کريم تلاوت ته دي په کتل، او که نامحرمو څهرو ته دي کتل، او همدارنګه به د غوږو او زړه پوښتنه هم ترې وسي، لکه الله تعالی چي فرمايي : إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَـٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴿٣٦﴾ سورة أسراء ترجمه : يقيناً اوربدل او ليدل او زړه کي يو شی راتلل، دا ټول د هغو صفاتو او نعمتونو څخه دي چي ددغه په باره کي به د قيامت په ورځ سوال کيږي، قتاده ددغه آيات په تفسير کي فرمايي :چي هغه څه بيانوې چي تا په حقيقت کي نه وي ليدلي، مګر ته وايې چي ما وليدی، او يا تا نه وي اوربدلی مګر ته وايی چي ما اوربدلي دي، الله تعالی ددغه ټولو شيانو پوښتنه د بنده څخه کوي .

## اووم مبحث: ترازو او په هغه کښي اختلاف

## اول مطلب

### ميزان ﴿ترازو﴾

كله چي د ټولو بنده ګانوسره حساب او كتاب ختم سو، نو بيا به ددوى اعمال تلل كيږي، په ترازو باندي چي هره خواء درنه سي، نو دده د آخرت جزاء او بدله به هم هغه وي؛ كه يې د ښو اعمالو خواء درنه سوه، نو دى به كامياب وي، او كه يې د بدو خواء درنه سوه، نو به ناكام وي امام قرطبي ليكي :چي كله حساب او كتاب خلاص سي نو بيا به دبنده ګانو اعمال تلل كيږي[1]، ځكه دا ترازو د آخري انجام او آخري نتيجې لپاره وي پر دغه ميزان باندي ډېر نصوص يعني آياتونه او احاديث سته، لكه قرآن كريم كي چي الله تعالى د ميزان بيان كوي او فرمايي:وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴿۴۷﴾ سورة أنبيا ترجمه: او موږ به كښېږدوترازوګان د عدل په ورځ كي د قيامت

## دوهم مطلب

### دقيامت په ورځ به ترازو يو وي او كه به ډېر وي؟

په دې كي د علماؤ اختلاف دى، بعضي علماء وايي چي دا ترازو ګان به ډېر وي د هر بنده لپاره به جلا جلا ترازو وي، ددوى دليل دغه مخكينى آيات شريف دى چي ﴿موازين﴾ لفظ جمع په كي ذكر سوى دى، نو ترازو ګان به هم ډېر وي، ځكه الله تعالى جمع ذكر كړې ده .او نور علماء وايي :چي ترازو به يو ترازو وي، دليل يې دغه مخكينى آيات شريف دى، خو دوى وايي چي دا﴿ موازين﴾ چي جمع ذكر سوى دى، دا په اعتبار د بنده ګانو د اعمالو دى، يعني اعمال به يې ډېر وي؛ نو ځكه يې ﴿موزاين ﴾جمع ذكر كړه. او يا بل جواب﴿ موازين﴾ جمع ذكر سوه، په اعتبار د اشخاصو چي خلګ به ډېر وي، نو ځكه جمع ذكر سو .ابن حجر دغه قول ته ترجيح وركړې ده چي ترازو به همدا يو وي ډېر به نه وي .دغه ترازو چي د قيامت په ورځ به ايښودل كيږي، دا حقيقي ترازو دى، په حقيقت كي د بنده ګانو اعمال په كي تلل كيږي، دا عقيده د ټولو اهل سنت والجامعة ده البته معتزله وايى، چي دا حقيقت ترازو نه دى، بلكه دا به يو عدل وي، د الله تعالى له طرفه به كيږي، ترازو نسته دا د معتزله وو عقيده ده، خو دوى د صريحي نصوصو څخه مخالفت كړى دى

[1] تذكيرة القرطبى صفحه ۳۰۹

## دريم مطلب :

### د بنده ګانو اعمال به څنګه تلل کيږي.؟

په دې کې هم اختلاف دی بعضي علماء وايی :چې د غه د بنده ګانواعمالو ته به صورت ورکول سي او هغه به تلل کيږي، چې هر عمل درووند سو بس پر هغه به فيصله کيږي .دوهم قول :بعضې علماء بيا وايی :چې هغه انسان به تلل کيږي چاچې عمل کړی دی که يې عمل ډېر وو نو داشخص به په ترازو کي دروند سي که يې عمل لږ وو نو سپک به سي . دريم قول :دادی چې په ترازو کي به ددغه بنده ګانو عملنامې تلل کيږي؛ نو والله اعلم چې په دغه ورځ به په ترازو کي څه تلل کيږي .

## اتم مبحث :حوض کوثر او دهغه ځای

## اول مطلب:

### حوض کوثر

حوض جمع د حائض ده دا هغه ځای ته ويل کيږي چې هلته اوبه جمع وي، حوض کوثر دا يو حوض دی چې الله تعالی نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته ورکړی دی، لکه الله تعالی چې فرمايي : إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴿١﴾ سورة الكوثر ترجمه :يقينا موږ تاته درکړی دی حوض کوثر په دغه باره کي ډېر احاديث سته چې الله تعالی نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته حوض کوثر ورکړی دی، او دغه حوض به ډېر غټ وي، اوبه به يې تر شيدو سپيني وي، او بوی به يې تر مشکو هم خوش بويه وي، او ددغه حوض لوټې يا کوزې به دومره ډېرې اوښايسته وي لکه د آسمان ستوري، نبي کريم صلی الله عليه وسلم په يو حديث شريف کي ددغه حوض صفت داسې بيان کړی دی :عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رضي الله عنهما قَالَ:قالَ النَّبِيُّ ﷺ:«حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ، مَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ، وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ المِسْكِ، وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ، مَنْ شَرِبَ مِنْهَا فَلاَ يَظْمَأُ أَبَدًا[١] ترجمه :ابن عمر رضی الله فرماييلي دي :چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل :زما د حوض مسافه به يې د يوې مياشتې په اندازه وي، اوبه د حوض به تر شيدو سپيني وي، او بوی به يې تر مشکو هم خوشبويه وي، او لوټې اوکوزې به يې لکه د آسمان ستوري دومره وي، او چا چې دغه اوبه وڅښلې نو دی به هيڅ کله هم تږی نه سي.او ددغه حوض غټ والی دنبي کريم صلی الله عليه وسلم په يو بل حديث شريف کي راځي :عَنْ أَنَسٍ

١صحيح البخاری جلد ٢ صفحه ٩٧٤ نمبر ٦٥٧٩ كتاب الحوض

بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ:«إِنَّ قَدْرَ حَوْضِي كَمَا بَيْنَ أَيْلَةَ وَصَنْعَاءَ مِنَ الْيَمَنِ [1] ترجمه :نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :چي یقینا اندازه زما د حوض به دومره وي لکه د ایلې او صنعاء په مابین کي د یمن څخه، یعني دومره اندازه به یې غځوالی وي.دادنبي علیه السالم د حوض کوثر صفت وو

## دوهم مطلب

### دغه حوض به چیري وي؟

په دې موضوع کي اختلاف دی، په فتح الباري کي ذکر سوي دي :د فتح الباري مصنِف فرمایي :چي په بخاري شریف کي امام بخاري رحمه الله د حوض کوثر بیان

تر صراط حساب او میزان وروسته راوړی دی، دیته اشاره ده چي حوض کوثر به تر پل صراط تر تیرېدو وروسته وي د ډېرو علماوو دغه رایه ده چي حوض کوثر تر پل صراط وروسته دی.او ابو عبدالله هم په تذکیرة القرطبي کي بیان کړی دی :چي حوض کوثر به تر پل صراط وروسته وي .بعضي نورو علماوو بیا ددې برعکس وایی او فرمایي : چي حوض کوثر به تر پل صراط مخکي وي، خو صحیح خبره چي ددواړو اقوالو ترجیح وسي، هغه داده چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته دوه حوضه ورکول سوي دي؛ اول :حوض به د پل صراط مخکي وي چي خلګ به په اوبه کوي، او دوهم حوض به د پل صراط وروسته په جنت کي به وي؛ چي اول حوض بیرته ددوهم حوض څخه سرچینه اخلي، او دواړه یو رقم حوضونه دي

## نهم مبحث: پُل صراط او دهغه ځای

## اول مطلب

### پُل صراط

کله چي د ټولو بنده ګانو سره حساب وسي، او اعمال یې په ترازو باندي وتلل سي، نو د اخیري نتیجې د معلومیدو لپاره به ځي، او هلته به یې نتیجه معلومېږي؛ چي څوک کامیاب سو؛ په دغه امتحان کي، او څوک ناکام سو؛ چي ددغه ځای نوم پُل صراط دی .دغه ځای به د مؤمنانو لپاره نعمت یعني جنت وي، او د کفارو لپاره به عذاب یعني جهنم وي . دا ټول خلګ تر هغو پوري نه جنت ته نه دوزخ ته تللای سي تر څو چي پر دغه پله باندي تېر سوی نه وي، دا

[1] صحیح البخاري جلد ۲ صفحه ۹۷۴ نمبر ۶۵۸۰ کتاب الحوض

یوازینې لاره ده، چي جنت یا دوزخ ته تللي ده .

دا پُل صراط دا یو پل دی چي د جهنم پر ملا باندي تیر سوی دی، دغه پل به تر ویښته هم نازک وي، او تر تېرې توري به هم تېره وي، پر دغه پله باندي به ټول خلگ که انبیاء دي، که مؤمنان دي، که کافران تیریږي .داده اهل سنت الجماعت عقیده ده چي پر دا پله به ټول تېریږي، خو معتزله ددغه پله څخه منکره دي، دوی وایی چي دا ممکنه نه ده چي پر دومره تیره او نازک تار باندي دي څوک تېر سي. هر څوک به پر دغه پله باندي د خپل عمل په اندازه تیر سي، که دچا ښه عمل وو هغه به تېرسي، او که د چا عمل بد وو هغه به ور ولوېږي جهنم ته .یعني هر بنده به د خپل نیک عمل او تقوی په اندازه تیز تیریږي، او هر څوک د خپل ضعیف او بیکاره عمل په اندازه به کراره تېرېږي .دا پُل یو قسم چنگکان لري چي په دغه چنگکانو کي به سخت گناهکاران منافقان او کفار بندیږي، او جهنم ته به ورلوېږي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دغه چنگکانو په باره کي فرمایي :قَالَ: رَسُولَ اللَّهِ ﷺ وَبه كَلَالِيبُ مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ أَمَا رَأَيْتُمْ شَوْكَ السَّعْدَانِ؟ قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: فَإِنَّهَا مِثْلُ شَوْكِ السَّعْدَانِ، غَيْرَ أَنَّهُ لَا يُعْلَمُ قَدْرُ عِظَمِهَا إِلَّا اللَّهُ ۭتَخْطِفُ النَّاسَ بِأَعْمَالِهِمْ[1] ترجمه :نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي :اوپه دغه پل صراط باندي چنگکان دي، په مثال د سعدان د ځوز، آیا تاسي د سعدان ځوز لیدلی دی؟ صحابو وفرمایل :هو ای د الله تعالی رسوله، نو دا چنگکان به د سعدان د ځوز په رقم وي؟ مگر دومره خبره ده ددغه چنگکانو د غټ والي په اندازه د الله جل جلاله ماسیواء بل څوک نه پوهیږي، نو خلگ به نیسي، په خپلو اعمالو سره.یعني د هر چا چي هر څنگه عمل وي هغسي به پر پل صراط باندي تیریږي. دا پُل صراط چي پر جهنم پروت دی، پر دغه لاره باندي به ډېره تاریکه وي، ځکه چي جهنم ډېر تاریک دی؛ نو الله تعالی به هغه خلگو ته چي پر پل صراط تریږي او مؤمنان وي دغو خلگو ته به الله تعالی نور ورکړي چي پر پُل صراط په تاریکی کي به دوی ته روښنایي جوړه کړي ، کفار او منافقان به له دغه نور څخه بې برخي وي؛ لکه الله تعالی چي فرمائی: يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَىٰ نُورُهُمْ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ﴿١٢﴾ سورة حدید ترجمه :په هغه ورځ چي ته ووینې مؤمنان نارینه او مؤمیني ښځي، چي تگ به کوي، ددوی نور ددوی و مخته او ددوی راسته طرف ته .یعني دغه نور به ددوی مخته وي یا راسته طرف ته وي، دوی به استفاده ورڅخه کوي، نو دوی به تیر سي، او کفار او منافقان به ورلوېږي .او پر دغه پله چي اول تیریږي هغه به نبي کریم صلی الله علیه وسلم وي؛ ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي قَالَ: رَسُولَ اللَّهِ ﷺ فَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَيْ جَهَنَّمَ، فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُجِيزُ[2] ترجمه :نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي :وروسته به کینبودل سي پُل صراط پر مابین د جهنم نو زه به اول هغه څوک یم چي پر دغه پله باندي به تیرېږم .کوم خلگ چي پر پل صراط تیریږي هغه به د خپل عمل په اندازه نور لري،

١صحیح البخاري جلد ٢ صفحه ٩٧٣ کتاب الرقاق

٢صحیح البخاري جلد ٢ صفحه ٩٧٣ کتاب الرقاق

او سرعت اوتېزي به يې هم د عمل په اندازه وي چي بعضي خلګ به د اعمالو په سبب دومره تيز و ي، لکه برق، بل څوک به دومره تيز وي لکه باد، بل به د مرغه په اندازه تيز وي نو کوم خلګ چي پر پل صراط باندي واوړي او تېر سي نو پر هغه غاړه به ملکي ورته ولاړي وي، او دوی ته به ښه راغلاست وايی، او دوی به خپل اخيري انجام ته ورسيږي او کامياب به سي، جنت ته به داخل سي، او نور خلګ به بيا پر پله تير نه سی بلکه جهنم ته به لاندي ور ورولوېږي، او اخيري انجام به يې بد سي، او ناکام به سي.

## خاتمه البحث

دبحث په پای کي دحشر اونشر دحالاتو او دقيامت دلويو صحنو دبيان وروسته داحقيقت په خرګند ډول معلومېږي چي دقيامت ورځ حق ده او هيڅ شک پکښي نسته او انسان دخپلو ټولو کړنو او ويناوو مسؤول دی نو بختور هغه څوک دی چي دايمان اونيکو اعمالو په وسيله دهغي ورځي لپاره ځان تيار کړي او خپل ژوند دالله سبحانه وتعالی په اطاعت کي تېر کړي او دقرآن کريم او درسول کريم صلی الله عليه وسلم پر لاره باندي ځان برابر کړي

او بدبخته :هغه څوک دی چي ددنيا په فاني ښکلاوو کي ډوب سي اودآخرت له تلپاتي ژوند څخه غافل وي

اومونږ له الله سبحانه وتعالی څخه غوښتنه کوو چي مونږ دصالحانو په ډله کي راوپاڅوي او له هغي ستري وېري څخه چي په قيامت کي به وي وساتي او داغوښتنه کوو چي الله تعالی موپه خپل فضل سره جنتونو ته داخل کړي

## وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

## سپارښتني / وړانديزونه

### عامو مسلمانانو ته :

۱: هر مسلمان بايد پوره يقين او باور ولري چي دمرگ وروسته به بيا راژوندی کيږي او دالله تعالی په حضور کي به حساب ور کوي نو ځکه دی بايد خپل هر عمل دآخرت په تله وتلي .

۲ :لمونځ دي دژوند بنسټ وگرځول سي ځکه لمونځ دقيامت په ورځ هغه لومړنی عمل دی چي پوښتنه به يې تر تولو عملو مخکي کيږي که يې لمونځ سم وو نوټول اعمال به يې سم وي .

۳:هر مسلمان دي دتوبې دروازه خلاصه وبولي او توبه دي تر صبا پوري نه ځنډوي ځکه مرگ ناځاپي راځي .

۴: په هر مجلس کي دي دقيامت حشر او نشر يادونه کوي ځکه دازړه نرموي او دعباداتو شوق پيدا کوي او الله ته درجوع سبب کيږي .

۵: مسلمان دي هره ورځ دځان سره حساب دځان عادت جوړ کړي تر څو دهغه لوی حساب لپاره تيار او اماده سي .

# مأخذونه

١:القرآن الكريم .

٢:بخاري ،محمد ابن اسماعيل (٢٥٦) الجامع المسند الصحيح (١) دار طوق النجاة

٣: مسلم ، مسلک بن الحجاج (٢٦١) المسند الصحيح (-----)، دار احياء التراث

٤: الامام القرطبي ، محمد بن احمد ابى بكر الانصاري القرطبي (٦٧١) تذكرة القرطبي (------)

٥:الخطيب التبرزي ، ولى الدين محمد بن عبدالله (٧٤١) مشكوة المصابيح (-----)

٦: شيخ الاسلام ،احمد بن عبد الحليم بن عبد السلام (٧٢٨) مجموع الفتاوى (------)

٧:الحافظ ابن الحجر ، احمد بن علي بن حجر العسقلاني (٨٥٢) فتح الباري (-----)